عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپرونه: عمومي
۱۸ اګست ۲۰۲۰

اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**څلور اویایمه ناسته**
**د اجنډا ۳۶ ماده**
**د افغانستان وضعیت**

**د امنیت شورا**
**پنځه اویایم کال**

## د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

### د عمومي منشي راپور

### لومړی. پېژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) پریکړه لیک په تعقیب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د پرمختګونو او تحولاتو په اړه راپو ر ورکړي، وړاندي کیږي.

۲. د ۲۰۲۰ کال د جون پر ۱۷ نېټه زما د پخواني راپور (A/74/897-S/2020/549) له خپریدو راهیسې، دغه راپور د سیاسي، بشري، پرمختیایي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندي کوي. د دغه راپور ضمیمه د امنیت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پریکړه لیک سره سم، د ۲۰۱۹ کال د فبروري د ۲۸ نېټې راپور (A/73/777-S/2019/193) د خپریدو راهیسې د معیارونو او شاخصونو په لور د ترسره شوي پرمختګ ارزونه رانغاړي.

### دویم. اړوند پرمختګونه

۳. د مئ پر ۱۷ نېټه د ولسمشر اشرف غني او د مصالحې د عالي شورا د رییس عبد الله ترمنځ د سیاسي موافقې تطبیق د وزیرانو، والیانو او نورو منصبونو لپاره د ګمارنو پر سر له ستونزو سره مخ شو، چې له امله یې د کابینې جوړول ځنډول شوي. د بندیانو دوامدار خوشې کول او د کوچني او لوي اخترونو پر مهال د اوربند رعایت کول بین الافغاني مذاکراتو ته خوځښت او پرمختګ ورکړ خو بریدونو دوام درلود. د امریکا متحده ایالاتو اعلان وکړ چې افغانستان ته د سولې راوستلو په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ د ګډې اعلامیې او افغانستان ته د سولې راوستلو په اړه د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو د موافقې د ساتلو او پوره کولو په پار چې د فبروري پر ۲۹ نېټه لاسلیک شوي، د خپلو ځواکونو شمیر له ۱۳۰۰۰ څخه ۸۶۰۰ ته راکم کړی. دولت د بین الافغاني سولې او پخلاینې، اقتصادي همکارۍ او نښلون، او کورونا ناروغۍ (کوویډ-۱۹) ته د غبرګون ویلو په اړه سیمه ییزې اجماع ته د ودې ورکولو هڅې جاري ساتلې. له تاوتریخوالي، طبیعي ناورینونو او خوړو نا خوندیتوب سره مل د کوویډ شص۱۹

خپریدو بشري مرستو ته اړتیاوې لا زیاتې کړې، چې د اټکل له مخې په ۲۰۲۰ کال کې شا و خوا ۱۴ میلیونه وګړي بشري مرستو ته اړتیا لري. د افغانستان په اړه د ۲۰۲ کال د وزیرانو د سر مشریزې لپاره پلانول جاري و.

**الف. سیاسي تحولات**

۴. د مارچ پر ۹ نېټه د لوړې تر مراسمو او د مې پر ۱۷ نېټه تر سیاسي موافقې وروسته، ولسمشر د ۱۰ وزارتونو، دوه د دولت وزارتونو او دغه راز د کابینې او نورو منصبونو لپاره د اشخاصو ګمارنې اعلان کړې. د راپور ورکولو په موده کې، ولسمشر احمد جواد عثماني د روغتیا وزیر په څیر، محمود کرزی د ښاري پراختیا او ځمکو د وزیر په څیر، طاهر زهیر د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په څیر، رنګینه حمیدي د پوهنې د وزیر په څیر، محمد هارون چخانسوري د معادنو او پټرولیم د وزیر په څیر، او احمل احمدي د مرکزي بانک د وزیر په څیر وګمارل. د جولای پر ۱۸ نېټه، ولسمشر د دفاع وزارت د سرپرست وزیر په څیر د اسد الله خالد او کورنیو چارو د سرپرست وزیر په څیر د مسعود اندرابي د بیا ګمارنې په اړه فرمان صادر کړ. هغه دغه راز د دوو خپلواکو ریاستونو د ملي امنیت د ریاست او د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د ریاست لپاره د رئیسانو، دغه راز د دفاع په وزارت او د ملي امنیت په شورا کې د یو شمیر ګمارنو په اړه خبر ورکړ. د ښاغلي عبد الله له خوا د کابینې، والیانو او د مصالحې د عالي شورا لپاره د خپلې ونډې د نوماندانو وړاندیزونه لا تر اوسه ځنډیدلي. د جمعیت اسلامي ترمنځ د کړکیچ په راولاړیدو سره، د دغه ګوند مشر صلاح الدین رباني د جولاي پر ۲ نېټه یوه اعلامیه خپره کړه چې د دولت سره خپل اپوزیسون یو ځل بیا تاییدوي او د نومورې ګوند د اجرائیه رییس عطا نور او د رهبرۍ له شورا د نورو غړو دندې ځنډوي.

۵. د مارچ د میاشتې راهیسې، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې له وړاندیز سره سم او د ولسمشر په پریکړې سره له ۳۴ ولایتونو څخه د ۱۴ هغو والیان بدل شوي. ښاغلي عبد الله د سلا مشورو د نه ترسره کولو له امله پر دغو ګمارنو نیوکه کړې او په ډاګه یې کړه چې په دغو ولایتونو کې هغه ولایتونه هم شامل دي چیرې چې د هغه انتخاباتي ټیکټ د ۲۰۱۹ کال په ولسمشریزو ټاکنو اکثریت رایې ترلاسه کړې وې.

۶. د جولای پر ۶ نېټه، د ښځو چارو د نوې سرپرستې وزیرې د وړاندیز پر بنسټ، ولسمشر د دویم مرستیال والي د منصب د رامنځ ته کیدو په اړه فرمان صادر کړ چې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ښځو لپاره ځانګړې شوي. تمه کیږي چې دغه منصبونه د ښځو پر ټولنیزو او اقتصادي چارو د هغوي حقونو ته پر ودې ورکولو تمرکز وکړي. دمګړۍ د لومړي مرستیال والیانو هیڅ منصب د ښځو له خوا نه دی اشغال شوی. د جولای پر ۱۲ نېټه، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې په لوګر ولایت کې د دویم مرستیال والي منصب لپاره یوه ښځه معرفي کړه.

۷. له سیاسي هوکړې سره سم، د ولسمشر پخواني مرستیال عبد الرشید دوستم د جولای پر ۱۵ نېټه په جوزجان ولایت کې په یو لړ مراسمو کې چې مشري یې د ښاغلي عبد الله له خوا کیده، د مارشالۍ رتبې ته ترفیع شو. د مارشالۍ له رتبې سره تړلي صلاحیتونه او امتیازات لا تر اوسه د ولسمشریزې ماڼۍ له خوا نه دي تایید شوي.

۸. د جولای پر ۲۱ نېټه، د ولسمشر دفتر یوه اعلامیه خپره کړه چې ادعا یې کوله چې ځینې هغه وزیران چې ښاغلي عبد الله یې د وړاندیز کولو هوډ لري پر مسلکي شرایطو نه دي برابر. پخواني ولسمشر حامد کرزي او پخواني جهادي رهبر عبد الرب رسول سیاف چا چې د مې د ۱۷ نېټې د سیاسي توافق په مذاکره کې مرسته کړې له ولسمشر او ښاغلي عبد الله غوښتې چې زر تر زره دغه توافق رعایت او عملي کړي.

۹. پارلمان په مکرر ډول له دواړو رهبرانو د وزارتونو او نورو دولتي منصبونو لپاره د خپلو نوماندانو د معرفي کولو غوښتنه وکړه، څو له اساسي قانون سره سم د باور رایه ورکړي. د جون میاشتې له نیمه راهیسې د یو شمیر مناسباتو پر مهال، د ولسي جرګې غړو د پارلمان پر غړو غږ کړی چې یوازې وړ نوماند تایید کړي، هغه نوماند رد کړي چې دوه تابعیته وي څو د پخوانۍ ادارې د نا محدودې مودې لپاره د سرپرست وزیرانو د ساتلو دود پای ته ورسوي او دغه راز د باور رایې لپاره دولت وزیران معرفي کړي. د ملي شورا دواړو خونو د بین الافغاني مذاکراتو په لور د یو لومړیتوب او د افغان وګړو د سترې اړتیا په څیر د پرمختګ غوښتنه وکړه. د جولای پر ۱۹ نېټه، پارلمان د شهیدانو او معلولینو د چارو

لپاره د دولت وزارت د رامنځ ته کيدو په اړه تقنيني فرمان تاييد کړ. د جولای پر ۲۲ نېټه، پارلمان په رسمي ډول د سپتمبر تر ۶ نېټې د دوبي پر رخصتۍ لاړ.

.۱۰ د کوويډ -۱۹ له امله له محدوديدتونو سره سره د ټاکنيزو چارو د مديريت ادارو خپل فعاليتونه جاري ساتلي. د مۍ پر ۳۱ نېټه د سولې لپاره د افغان ميرمنو ايتلاف ولسشمر او ښاغلي عبد الله ته يو ليک واستوه چې تر راتلونکو ټاکنو مخکې يې د ټاکنيزو اصلاحاتو د تطبيق غوښتنه کوله. د جولای له ۲ تر ۸ نېټې پورې، د ټاکنو خپلواک کميسيون د خپلو ۳۴ ولايتونو د کارمندانو لپاره د ۲۰۱۹ کال له ولسمشريزو ټاکنو څخه د زده شويو لوستونو په اړه يو آنلاين ورکشاپ ترسره کړ. د جولای له ۲۱ تر ۲۳ نېټې پورې دغه کميسيون له سياسي ګوندونو او د مدني ټولنې له سازمانونو سره ورته ناستې ترسره کړې.

.۱۱ د دولت او طالبانو تخنيکي ټيمونو په کابل کې خپل کار جاري ساتلی څو د متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ د فبروري د ۲۹ نېټې د موافقې له مخې د بنديانو خوشې کول تطبيق کړي. د جولای پر ۱۶ نېټه، د بهرنيو چارو سرپرست وزير حنيف اتمر له طالبانو د بنديانو د نوي ليست غوښتنه وکړه څو د هغو ۴۰۰ بنديانو پر ځای خوشې شي کوم چې دولت د هغوي د جرمي ماهيت له امله د خوشې کيدو نه وړ په ډير په ګوته کړي. دغه غوښتنه د طالبانو له خوا رد شوه. د جولای پر ۲۰ نېټه، دولت د هغو ۴۴۰۰ طالبانو ليست له خلکو سره شريک کړ څوک چې تر دې دمه خوشې کړای شوي. د جولای پر ۳۰ نېټه، طالبانو په ډاګه کړه که چيرې دولت د طالبانو له خوا د سپارل شوي ليست سره سم ټول بنديان خوشې کړي، طالبان تر لوی اختر وروسته د بين الافغاني مذاکراتو د پيلولو لپاره چمتو دي. د جولای پر ۳۱ نېټه، ولسمشر اعلان وکړ چې مشورتي لويه جرګه به ترسره شي څو د پورته ياد شويو ۴۰۰ طالب بنديانو د خوشې کولو په اړه پريکړه وکړي او دا چې د دغو بنديانو په خوشې کولو سره به دولت ټولټال ۵۱۰۰ بنديان خوشې کړي څو د سولې پروسه ګړندۍ کړي. د اګست تر ۲ نېټې پورې، دولت د ۴۹۱۷ طالب بنديانو د خوشې کولو او طالبانو د ۱۰۰۵ افغان دفاعي او امنيتي ځواکونو د توقيفيانو د خوشې کولو خبر ورکړی.

.۱۲ د مۍ پر ۲۳ نېټه، طالبانو د کوچني اختر د رخصتيو پر مهال درې ورځنۍ اوربند اعلان کړ. طالب جنګياليو ته ويل شوي وه، چې د حکومت تر ولکې لاندې سيمو ته له تګ څخه ډډه وکړي. ولسمشر هم د دولت له خوا د بالمثل اوربند اعلان وکړ او په ډاګه يې کړه چې د مذاکرې ټيم د بين الافغان مذاکراتو د پيلولو لپاره چمتو دی. ولسمشر دغه راز په تاوتريخوالي کې د پام وړ کمښت غوښتنه وکړه چې دې توګه په بشري اوربند تمام شي. په دغه درې ورځنۍ موده کې د تاوتريخوالي کچې د پام وړ راکمې شوې، چې د نړيوالې ټولنې له خوا يې هرکلی وشو. د مۍ پر ۲۷ نېټه په يوې ګډه اعلاميه کې، د جرمني، اندونيزيا، ناروې، قطر او ازبکستان د بهرنيو چارو وزيرانو – هغه هيوادونه چې د بين الافغاني مذاکراتو لپاره يې د ملاتړ وړانديز کړی – افغان دولت او طالبان "په تاوتريخوالي کې د يوه دايمي او ټول اړخيز کمښت" په لور نور ګامو اخيستلو ته هڅولي. د جون پر ۸ نېټه، ښاغلي عبد الله اعلان وکړ چې په دوحه کې به بين الافغاني مذاکرات د بنديانو د خوشې کولو او په تاوتريخوالي کې د کمښت د پرمختګ په شرط پيل شي. د قطر هيواد له تروريزم سره د مبارزې او د شخړو د حل د منځګړيتوب ځانګړي استازي مطلق القحطاني د جون پر ۱۰ نېټه له کابل څخه ليدنه وکړه، چيرې چې هغه د قطر له خوا د منځګړيتوب د ترسره شويو هڅو په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د جون پر ۱۴ نېټه، د ولسمشر وياند په ډاګه کړه چې حکومت منلې چې د مذاکراتو لومړۍ ناسته به په دوحه کې ترسره کيږي، خو د ځای په اړه لا تر اوسه توافق نه دی شوی. د جولای پر ۲۸ نېټه، طالبانو د لوي اختر لپاره د اوربند اعلان وکړ او خپلو جنګياليو ته يې لارښوونه کړې وه چې په دغه درې ورځنۍ موده کې د دولتي ځواکونو پر ضد هيڅ ډول عمليات ترسره نه کړي. ولسمشر تر دې اعلان ورسته افغان امنيتي ځواکونو ته لارښوونه وکړه چې اوربند رعايت کړي او تر هغې له تعرضي عملياتو ډډه وکړي تر کومه چې طالبانو بيرته خپل بريدونه نه وي پيل کړي.

.۱۳ دولت د سولې په اړه د سيمه ييزې اجماع د پياوړي کولو لپاره خپلې هڅې جارې ساتلي. د جون پر ۱۵ نېټه، د بهرنيو چارو وزير، د افغانستان د سولې او پخلاينې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړي استازي، او د افغانستان لپاره د روسيې فدراتيف ځانګړي استازي ضمير کابلوف په يوه آنلاين ناسته د سولې پروسې د ملاتړ په پار د سيمه ييزې اجماع په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د جولای پر ۶ او ۹ نېټه، د بهرنيو چارو وزير د دوو آنلاين ناستو کوربه و چې د بين الافغاني

مذاکراتو او په تاوتريخوالي کې د کمښت د ملاتړ په پار يې له ۴۰ زيات هيوادونه او نړيوال سازمانونه راغونډ کړي و. د جولای د ۱۷ نېټې په دوو غونډو کې، ښاغلي اتمر د دې يادونه وکړه چې ګډونوالو دا ومنله چې په افغانستان کې سوله او ښيرازي په پراخه کچه په سيمه کې له سولې او ښيرازي سره تړاو لري او د جمهوريت او د اساسي قانون د ساتنې په ګډون يې د تيرو ۱۹ کلونو د لاسته راوړنو ملاتړ وکړ. هغه وويل چې شاو خوا ۱۲ هيوادونو د بين الافغاني مذاکراتو د کوربتوب لپاره د مرستې وړانديز کړی.

۱۴. د افغانستان نړيوالو او سيمه ييزو همکارانو د سولې له هڅو سره خپل ملاتړ جاري ساتلی. د جون له ۵ تر ۱۱ نېټې پورې او د جولای له ۲۴ تر ۳۰ نېټې پورې، ښاغلي خليلزاد په ترتيب سره له دوحې، اسلام اباد او کابل؛ تاشکند، دوحه او اسلام اباد؛ او اوسلو، دوحه، کابل او سوفيا څخه ليدنې ترسره کړې. نوموړي افغان دولت او طالبان د بين الافغاني مذاکراتو څخه مخکې د پاتې موضوعاتو حل او له سيمه ييزو او نړيوالو فعالينو څخه د همکارۍ راجلبولو ته هڅولي. ښاغلي خليلزاد همدارنګه په دغه موده کې له ولسمشر او ښاغلي عبد الله سره آنلاين ناستې ترسره کړې. د جون پر ۶ نېټه، پاکستان د افغانستان لپاره د ځانګړي استازي په څير د محمد صادق ټاکنه اعلان کړه، چې د افغانستان له خوا د ورته اقدام په ترڅ کې د جولای پر ۷ نېټه محمد عمر داودزی د پاکستان لپاره د ځانګړي استازي په څير وټاکل شو. د جون پر ۲۹ نېټه، د طالبانو د سياسي کميسيون مشر ملا برادر په دوحه کې د افغانستان لپاره د ايران د اسلامي جمهوريت له ځانګړي استازي ابراهيم طاهريان سره وليدل. د جون پر ۲۹ نېټه او د اګست پر ۳ نېټه، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير مايکل پمپيو له ملا برادر سره آنلاين ناسته ترسره کړه.

۱۵. د جولای پر ۱۴ نېټه، متحده ايالاتو اعلان وکړه چې د نوموړي هيواد د ځواکونو شمير ۸۶۰۰ ته راټيټ شوی او پنځه نظامي هډې افغان شريکانو/ځواکونو ته سپارل شوې. د جولای پر ۱۴ نېټه، ناټو د يوې اعلامېې په خپرولو سره په ډاګه کړه چې د پريکنده ملاتړ د ماموريت شتون د شرايطو پر بنسټ و او د سولې پروسې سره يې د ملاتړ لپاره خپل چمتوالی په ډاګه کړ. طالبانو په نړيوال نظامي شتون کې د کمښت هرکلی وکړ خو د بنديانو په خوشې کولو او د بنديزونو له ليست څخه يې د طالبانو د غړو د نومونو په ايستلو کې د ځنډ يادونه وکړه.

۱۶. د سولې په چارو کې د دولت وزارت او مذاکره کوونکي ټيم د مدني ټولنې له فعالينو، د ځوانانو ګروپونو، ديني علماؤو، د جګړې قربانيانو، د پارلمان له غړو، ژورنالستانو او سوداګرو سره په اړيکه کې د بين الافغاني مذاکراتو لپاره خپل چمتوالي جاري ساتلی. د جولای پر ۸ نېټه، د سولې په چارو کې د دولت وزارت د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره يو مشورتي هيئت پيل کړ چې د مذاکرې ميز ته د ټولنې د مختلفو قشرونو د غږونو په رسولو کې مرسته وکړي. د ښځو سازمانونو د افغان ښځو له شبکې او د سولې لپاره د ښځو له ايتلاف سره د "زموږ د راتلونکې لپاره، زموږ غږ" تر عنوان لاندې خپله مدافعه جاري ساتلې، او د جولای پر ۱۵ او ۳۰ نېټه په خپره شويو دوه اعلاميو کې يې د ژر تر ژره يې د دايمي اوربند او د بين الافغاني مذاکراتو د پيل غوښتنه کړې. د جولای په مياشت کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت په ټول هيواد کې له ښځو سره د اړيکې او پوهاوي د رامنځ ته کولو نوښت پيل کړي، خو ټول ۳۴ ولايتونه تر پوښښ لاندې ونيسي. افغان ولسي او ځايي خوځښتونو د کوويډ-۱۹ له شيوع سره سره د سولې په پار خپله مدافعه جاري ساتلې. د جولای پر ۸ نېټه، د سولې ولسي حرکت په ۲۰ ولايتونو کې سوله ييزې او رسنيز کنفرانسونه تنظيم کړي وو. دغه لاريونونه او کنفرانسونه چې په سلګونو ګډونوالو په کې برخه اخيستې وه په يوه څلور ماده ييز پريکړه ليک تما شول چې ژر تر ژره يې د اوربند او د بين الافغاني مذاکراتو د پيل غوښتنه کول. نوموړي حرکت د کوويډ-۱۹ وبا پر مهال د يوې پاييدونکې سولې لپاره د خپلې مدافع جاري ساتلو ژمنه وکړه.

۱۷. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) خپل ګډون او تعامل جاري ساتلی څو په تاوتريخوالي کې د کمښت او اوربند لپاره مدافعه وکړي، څو د کوويډ-۱۹ لا زيات اغيزناک غبرګون تسيهل کړي او د بين الافغاني مذاکراتو په لور خوځښت رامنځ ته کړي. د جون پر ۲۱ او د اګست پر ۵ نېټه، د سرمنشي ځانګړې استازې ديبورا لاينز له ملا برادر سره په دوحه کې وليدل څو د باور جوړونې پر تدابيرو خبرې اترې ترسره کړي لکه د بنديانو او توقيفيان خوشې کول، د بشري حقونو وضعيت او د کوويډ-۱۹ د خپريدو د مخنيوي هڅې، او د هيواد په جنګ ځپلو سيمو کې د بشري لاس رسي ډاډمنول. يوناما دغه راز له ځايي چارواکو او ټولنو سره د شخړو په مخنيوي او سولې په

راوستلو کې خپل کار زیات کړی. د هیواد په څلور شمالي ولایتونو کې، یوناما د سولې یو ځایي نوښت تطبیق کړي چې د ځوانو فعالینو له یوه ټول شمول ګروپ سره یې مرسته کړې، چې بیا وروسته د دغه ګروپ د څلورو ولایتونو له ۱۲۰ ځوانو استازو ګډون او تعامل د جون پر ۱۸ نېټه د ځوانانو د سولې پر اعلامیې تمام شو، چې د هیواد په کچه یې شهرت ترلاسه کړ.

**ب. امنیت**

۱۸. په افغانستان کې امنیتي وضعیت د وړاندوینې نه وړ او په لوړه کچه تاوتریخجن دی. د مۍ له ۱۵ د جولای ۱۲ نېټې پورې، ملګرو ملتونو ۳۷۰۶ امنیتي پېښې ثبتې کړې، چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۲ سلنه کموالي وړاندې کوي. وسله والې نښتې د ټولو امنیتي پیښو ۵۸ سلنه جوړوي. د راپور ورکولو په موده کې، د ۲۱۵۳ وسله والو نښتو راپور ورکړل شوی، چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله یو څه کموالی په ډاګه کوي. دولت ضد عناصر د ټولو امنیتي پېښو د ۹۵ سلنه او د وسله والو نښتو د ۹۲ سلنه مسوول وو. د راپور ورکولو په موده کې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو کارونې او نا انډوله بریدونو په عام ډول د پېښو له لوړو کچو سره مرسته کړې. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې د ۲۹۹ بریدونو په پرتله د راپور ورکولو په موده کې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا ۱۳ هوایي بریدونه ترسره شوي. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله، د افغان هوایي ځواک له خوا د هوایي بریدونو شمیر ۶۵ سلنه زیات شوی.

۱۹. د امنیتي پېښو تر ټولو لوړ شمیر په ترتیب سره د هیواد په جنوبي، ختیځو، مرکزي او جنوب ختیځ سیمو کې ثبت شوی. دا ټول سره یو ځای په ټول هیواد کې د ټولو امنیتي پېښو ۷۴ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې کندهار، هلمند، ننګرهار او وردګ هغه ولایتونه دي چیرې چې تر ټولو لوړ شمیر امنیتي پېښې ثبتې شوي. د جګړې له لوړو کچو سره سره، نه دولت پلوه ځواکونو او نه هم دولت ضد عناصرو کومې د پام وړ ځمکنۍ لاسته راوړنې درلودې. سره له دې چې طالبانو په ۲۰۲۰ کال کې د خپلو پسرلنیو یرغلیزو عملیاتو اعلان و نه کړ، خو بیا هم د تاوتریخوالې کچې د ۲۰۱۹ کال په ورته موده کې د تاوتریخوالي له کچو سره ورته پاتې دي.

۲۰. د دولت ضد عناصرو له خوا د لوړ کچې بریدونو دوام درلود، چې د تیرې مودې د ۱۱ بریدونو په پرتله د راپور ورکولو په موده کې ۷ ځانمرګي بریدونه ثبت شوي. د دغو بریدونو له جملې درې هغه یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو پر تاسیساتو، درې یې پر نظامي کاروانونو او یو یې د یوې ولسوالۍ پر مرکز ترسره شوي. د دغو ټولو بریدونو مسوولیت طالبانو پر غاړه اخیستی. په ۲۰۱۹ کال کې د راپور ورکولو د ورته مودې په پرتله، طالبانو د ولسوالیو او ولایتونو پر مرکزونو لړ فشار راوړي په داسې حال کې ښاري مرکزونو ته پر لویو لارو یې کنټرول او پر نظامي هدو، چیک پواینټونو او کاروانونو یې بریدونه زیات کړي. په تېرو میاشتو کې د جنایي جرمونو زیاتیدل د خلکو لپاره د ځانګړې اندېښنه وړ و، په تېره بیا د کابل، هرات او مزار شریف په ښارونو کې. د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله د وسله والو غلاوو، شوکو او تښتونو په اړه په لا زیات مکرر ډول راپورونه ورکړل شوي.

۲۱. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله لا اوس هم فعاله ده. د جولای پر ۲۳ نېټه، د تحلیلي ملاتړ او د بندیزونو د څارنې ټیم خپل راپور خپور کړ، چې په افغانستان کې د نوموړې ډلې د اوسنیو غړو شمیر ۲۲۰۰ اټکلوي. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې د ۱۰۹ پېښو په پرتله، د راپور ورکولو په موده کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د ۹ پېښو د مسوولیت ادعا وشوه. په ننګرهار ولایت کې د شېرو او کونړ ولایت کې د یوې پېښې په ګډون د هیواد په ختیځو سیمو کې اوو پېښې او په کابل کې دوه پېښې رامنځ ته شوي. د اګست پر ۲ او ۳ نېټه، نوموړې ډلې د جلال اباد په ښار کې د یوه ډله ییز برید مسوولیت ادعا وکړه، چې له امله یې د دغې ډلې او طالبانو یو شمیر غړي له زندان څخه وتښتیدل. د دغې برید په پایله کې له ۷۰ څخه د زیاتو تلفاتو راپور ورکړل شوی، چې ترمنځ یې افغان ملي امنیتي ځواکونه، زندانیان او ولسي وګړي موجود وو.

۲۲. د راپور ورکونې په موده کې د ملګرو ملتونو د کارمندانو په ضد د تهدیدونو د ۸ پېښو، او د ۴ جنايي پېښو په ګډون، ۱۲ پېښې ترسره شوي.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۲۳. افغانستان د راپور ورکولو په موده کې د بین الافغاني سولې او پخلاینې، اقتصادي همکارۍ او نښلون، او کورونا ناروغۍ (کوویډ-۱۹) ته د غبرګون ویلو په اړه سیمه ییزې اجماع ته د ودې ورکولو لپاره خپلې هڅې او ګډون جاري ساتلي.

۲۴. د مۍ په ۲۷ نېټه، افغانستان، متحده ایالاتو او ازبکستان د وزیرانو په کچه یوه آنلاین ناسته ترسره کړې، په کومه کې چې دوی د درې اړخیز فارمټ ارزښت یو ځل بیا تایید کړ، د لا زیاتې همکارۍ ژمنه یې وکړه او پر هیوادونو یې غږ وکړ چې په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره له پایښت لرونکي سیاسي حل سره مرسته وکړي. د مۍ پر ۲۸ نېټه، په یوه ویډیویي کنفرانس کې چې د جرمني له خوا یې کوربتوب کیده، د افغانستان، قزاقستان، قرغستان، تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان، او اروپايي اتحادیې د سیمه ییزې همکارۍ، له کوویډ-۱۹ سره د مبارزې او دغه راز د مرکزي آسیا-د اروپايي اتحادیې د سیاسي او امنیتي ډیالوګ کوم چې به وروسته په ۲۰۲۰ کال کې په تاشکند کې ترسره شي، د تیاریو په اړه خبرې اترې ترسره کړې.

۲۵. د جون پر ۳ نېټه، د افغانستان لپاره د چین، پاکستان، د روسیې فدراتیف او د متحده ایالاتو ځانګړو استازو تیلفوني خبرې اترې ترسره کړې چې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د بندیانو د تبادلې او د بین الافغاني مذاکراتو په اړه یې د یو څه پرمختګ یادونه کوله. د جون پر ۹ نېټه، د پاکستان د پوځ مشر جنرال قمر جاوید باجوه په مشرۍ یوه لوړ پوړي پلاوي له کابل څخه لیدنه وکړه څو له ولسمشر او ښاغلي عبد الله سره وګوري. په دغو مباحثو کې د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت د سولې پروسې، د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او نښلون د موضوعاتو په اړه خبرې اترې ترسره شوې.

۲۶. د راپور ورکولو په موده کې، پاکستان له افغانستان سره د پولې په اوږدو کې د دوه اړخیزې سوداګرۍ لپاره پنځه دروازې پرانستې. د جولای پر ۱۷ نېټه، چین د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او راکړې ورکړې د بیرته پیل هرکلی وکړ او افغانستان ته یې د چین – پاکستان د اقتصادي دهلیز د پراخیدو ملاتړ وکړ، څو د یوه کمربند د سړک د نوښت ګټې لا پسې پراخې شي.

۲۷. د جون پر ۲۱ او ۲۲ نېټه، د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر، د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو له وزیر محمد جواد ظریف، او د ملي امنیت د عالي شورا له منشي علي شامخاني سره د کتنو لپاره له تهران څخه لیدنه وکړه. خبرې اترې د امنیت، د پولو د مدیریت، افغان کډوالو، او ترانسپورت په اړه پر همکارۍ متمرکزې وې. ایراني چارواکو یو ځل بیا د بین الافغاني مذاکراتو او د اساسي قانون د ساتلو په ملاتړ یوې اجماع ته د رسیدو له هڅو سره د خپلې ژمنې یادونه وکړه.

۲۸. افغانستان او د ایران اسلامي جمهوریت د ترانسپورت د نښلون د پیاوړي کولو لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې. د جولای پر ۷ نېټه، د ایران د اسلامي جمهوریت د سړکونو او ښاري پراختیا مرستیال وزیر خیر الله خادمي د چاه بهار-زاهدان-پري جان-مشهد د اوسپنې پټلۍ ۶۲۸ کیلو متره پروژه پرانیسته چې په ایران کې د چاه بهار بندر له افغانستان او د مرکزي اسیا له هیوادونو سره نښلوي. د جولای پر ۱۵ او ۱۶ نېټه، د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو مرستیال سید عباس عراقچي له افغانستان څخه لیدنه وکړه څو د دواړو هیوادونو ترمنځ د ټول اړخیز ستراتیژیک مشارکت د موافقې د طرحې د نهايي کولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. په داسې حال کې چې هغه د سیمه ییز نښلون او اقتصادي پراختیا پر اړتیا ټینګار کاوه، نوموړي په افغانستان کې د سولې د بېرته راوستلو لپاره د خپل هیواد د ملاتړ یادونه وکړه.

۲۹. د جولای پر ۲ نېټه، ولسمشر د آزربایجان له ولسمشر الهام علي اف، او ترکمنستان له ولسمشر قربان قلي بردی محمدوف سره د یوې آنلاین سرمشریزې کوربه و، چې د لاجوردو د ترانسپورټي لارې په ګډون د اقتصادي همکارۍ او

سیمه ییز نښلون په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د جولای پر ۱۳ نېټه، د درې واړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د نوموړې سرمشریزې د پریکړو د تطبیق په اړه خبرې اترې ترسره کړې څو سوداګرې او ترانسپورټي اړیکې پراخه کړې او د فایبر-آپټیک شبکه وغځوي.

۳۰. د چین-افغانستان-پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیرانو دریم دور درې اړخیز ستراتیژیک ډیالوګ د جولای پر ۷ نېټه ترسره شو. درې واړه لوري له کوویډ-۱۹ سره پر مبارزې، د افغان سولې او پخلاینې او درې اړخیزې همکارۍ یوې هوکړې ته ورسیدل. چین او پاکستان د افغان دولت د هڅو هرکلی وکړ او اړوندې خواوې باید د بندیانو تبادله ګړندۍ کړې او دغه راز یې په تاوتریخوالي کې د کمښت او د بشري مرستو لپاره د اوربند غوښتنه وکړه.

### دریم. بشري حقونه

۳۱. په افغانستان کې جګړه لا اوس هم ولسي وګړو ته درووند زیان اړوي. یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په اړه خپل شپږ میاشتنی راپور د جولای پر ۲۷ نېټه خپور کړ، چې د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې ۳۴۵۸ ولسي مرګ ژوبله (د ۱۳۸ ښځو او ۳۴۰ ماشومانو په ګډون ۱۲۸۲ مړه؛ او د ۲۵۹ ښځو او ۷۲۷ ماشومانو په ګډون ۲۱۷۶ ټپي) مستند کړې، کوم چې د ۲۰۱۹ کال د لومړۍ نیمه یې په پرتله ۱۳ سلنه کموالی وړاندې کوي. دغه کموالي په عمده ډول نړیوالو نظامي ځواکونو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د کمښت له امله رامنځ ته شوی، په داسې کې چې طالبانو ته منسوب شوي ملکي تلفات د پخوا په څیر په خپل حال پاتې او د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي ملکي تلفات لوړ شوي.

۳۲. دولت ضد عناصر د زیاتره ملکي تلفاتو (۵۸ سلنه) مسوول ګڼل کیږي، چې ۴۳ سلنه یې طالبانو اړولې، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله د ۹ سلنې ملکي تلفاتو مسووله ده او د دولت ضد نامعلوم عناصر د پاتې ۶ سلنه ولسي مرګ ژوبلې لامل شوي. دولت پلوه ځواکونه د ۲۸ سلنه ملکي تلفاتو مسوول شمیرل کیږي، چې زیاتره یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو (۲۳ سلنه)، نړیوالو نظامي ځواکونو (۳ سلنه) او پاتې نور یې دولت پلوه وسله والو ډلو او نا معلومو ګڼو دولت پلوه ځواکونو له خوا اړول شوي. ځمکنۍ نښتې (۳۵ سلنه)، د لاس جوړ چاودیدونکې وسیلې (۲۴ سلنه)، هدفي وژنې (۲۱ سنله) او هوایي بریدونه (۹ سلنه) د ملکي تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کیدل.

۳۳. په افغانستان کې وسله واله جګړه د بل هر چا په پرتله ماشومان زیات له ګواښ سره مخ کوي. په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په وړاندې د سختو سرغړونو د څارنې او راپور ورکونې هیوادني کاري ځواک د ۲۰۲۰ کال د دویمې ربع په اوږدو کې د ماشومانو ۶۲۰ تلفات (د ۵۷ نجونو او ۱۲۹ هلکانو په ګډون ۱۸۶ مړه؛ او د ۱۳۸ نجونو او ۲۹۶ هلکانو په ګډون ۴۳۴ ټپي) تصدیق کړې. دولت ضد عناصر(۲۲۵) د دولت پلوه ځواکونو (۲۱۵) په پرتله د لږ څه زیات د ماشومانو د تلفاتو  مسوول وو. د راپور ورکولو پر مهال، د ماشومانو د ۳۱۳ تلفاتو (۸۲ مړه او ۲۳۱ ټپي) په درلودو سره ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل و چې د عمومي ټولټال نږدې ۵۰ سلنه جوړوي. د کال د دویمې ربع پرمهال، کاري ځواک تصدیق کړې چې لږ تر لږه ۱۹ ماشومان (ټول هلکان) د طالبانو له خوا د جګړه ییزو نقشونو د ترسره کولو لپاره استخدام شوي، چې ټول یې د هیواد په شمالي سیمو کې ګمارل شوي او دا د پخوانۍ ربع د ۴ ماشومانو په پرتله په تصدیق شویو قضیو کې زیاتوالی په ډاګه کوي. د طالبانو له خوا د شپږو ماشومانو (درې نجونې او درې هلکان) تښتونه هم تصدیق شوې. د اندېښنې وړ ده څرنګه چې باور کیږي چې د سختې بې وزلۍ، پر خوځښت د محدودیتونو او د پوهنې په څیر بنسټیزو خدمتونو د کم لاس رسي له امله د کوویډ-۱۹ وبا د جګړې د ښکیلو خواوو له لوري د ګمارنې او کارونې په وړاندې د ماشومانو زیانمنتوب زیات کړی.

۳۴. د جګړې اړوند د ۱۸ داسې پېښو په درلودو سره چې روغتیایي مرکزونه او کارمندان یې اغیزمن کړې، د کال په دویمه ربع کې پر روغتیایي پاملرنې بریدونو دوام درلود، چې ۱۳ یې د طالبانو، ۴ د افغان ملي امنیتي ځواکونو او یوه یې د یوه نامعلوم لوري له خوا رامنځ ته شوي. د ۱۸ پېښو له جملې ۱۲ یې د طالبانو له خوا د روغتیایي کارمندانو د هدفي وژنو، تښتونو او تهدیدونو په ګډون مستقیم بریدونه، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا پر یوه روغتیایي کلینیک هوایي

برید او د روغتیايي کارمندانو تهدیدونه وو. د جون پر ۲۱ نېټه، یوناما د هغو بریدونو په اړه یو ځانګړی راپور خپور کړ کوم چې په افغانستان کې د روغتیايي خدمتونو وړاندې د پام وړ کمزوري کوي.

۳۵. د ۲۰۲۰ کال د اپریل د ۱ او جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، نوموړي کاري ځواک د ښوونځیو پر وړاندې د بریدونو نهه پېښې تصدیق کړې. دغه بریدونه افغان ملي اردو (دوه)، نا معلومو مخالفو وسله والو ډلو (دوه)، طالبانو (دوه)، دوه په ګډه افغان ملي اردو او طالبانو، او یو هغه یې نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوي. د دوه عمدي بریدونو چې په ښوونځي یې په نښه کړي وو، د دوه زده کوونکو د ژوبلې، او اووه بریدونو په ګډون چې ښوونځیو ته د تصادفي زیان لامل شوي، نهه پېښې د اوو زده کوونکو د مړینې او د اوو نورو د ژوبلې لامل شوي.

۳۶. د کال په دویمه ربع کې د ۱۱ پېښو په رامنځ ته کیدو سره هیوادني کاري ځواکو د بشري لاس رسي په مخنیوي کې د پام وړ زیاتوالی ثبت کړی. د دغو پېښو له جملې طالبان د ۱۰ هغو مسوول وو، چې د بشري مرستو د ۸ کارکوونکو له تښتونو، له ۱ هدفي وژنې او ۱ لوټلو څخه تشکیل شوي. افغان ملي امنیتي ځواکونه د بشري مرستو د لوټلو د یوې پېښې مسوول وو.

۳۷. د راپور ورکولو په موده کې، د وهلو ډبولو د ۱۹ قضیو، د وژنې د ۶ قضیو، د جنسي تیري د ۴ قضیو، د اجباري ځاني ژوبلې یا ځان وژنې د ۳ قضیو، د ځورنې د ۲ قضیو، د اجباري واد د ۱ قضیې، د اجباري فحشا د ۲ قضیو، د ژوبلې یا معیوبیت د ۱ قضیې او د کم عمر د واده د ۱ قضیې په ګډون یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي ۳۹ قضیې مستندې کړې. د ماشومانو په تړاو د پېښو په اړه، هیوادني کاري ځواک د جنسي تیري او جنسي تاوتریخوالي د خورا حساس ماهیت او د دغو پېښو په اړه د کلتوري پیغور له امله د کمې راپور ورکونې احتمال ملاحظه کړی.

۳۸. د جولای پر ۲۰ نېټه، د ښځو چارو د وزارت مرستیال، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره د لوي څارنوال مرستیال، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ښځو د حقونو کمیشنر، او نورو ښځو یو ګډ رسنیز کنفرانس ترسره کړ څو د ښځو او نجونو په وړاندې د هغه تاوتریخوالي په اړه راپور ورکړي چې د دوي د ادارو له خوا د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر له ۲۱ نېټې څخه د ۲۰۲۰ کال د جون د ۲۱ نېټې پر مهال ثبت شوی. دغو ادارو ټولټال ۵۶۵۵ قضیې ثبتې کړې. د لوي څارنوال مرستیال د کوویډ-۱۹ د ښاربندیز د مودې پر مهال د ۲۴۹ قضیو د ثبتولو خبر ورکړ. د کورنۍ د قانون مسوده اوس مهال د دولت تر پاملرنې لاندې دی. د واده د عمر، د ځو ودونو د اجازې احکام، تر طلاق وروسته د ماشومانو د ساتنې او حضانت په ګډون د اندېښنې وړې ساحې د مختلفو فعالینو له خوا په ډاګه شوي.

۳۹. د مې پر ۲۱ نېټه د کوچني اختر په مناسبت، ولسمشر په زندانونو کې د کوویډ-۱۹ د خپریدو د مخنیوي په موخه د زندانیانو د سزاګانو د بخښنې او راکمونې لپاره درېیم فرمان صادر کړ. د جولای میاشتې تر نیمه یې پورې، د کوویډ-۱۹ د مخنیوي په موخه د مارچ پر ۲۶ نېټه د لومړي فرمان پر مهال د کابو ټولټال ۴۱۰۰۰ زندانیانو او توقیفیانو له جملې شا و خوا ۱۰۰۰۰ (د نږدې ۴۰۰ ښځو په ګډون) خوشې کړای شول. په اټکلي ډول د زندانونو دوه پر درې برخه په خپل اعظمي ظرفیت خپلې چارې پر مخ وړي، چې زندانیان په دغه وایروس د ککړېدو په وړاندې زیانمنیدونکي کوي. د جولای میاشتې تر نیمه یې پورې، د زندانیانو او کارمندانو ترمنځ د زندانیانو له دریو څخه زیاته برخه یې د کوویډ-۱۹ مثبتې قضیې درلودې. له دې سره سره، د زندانونو د سیستم د وګړو ترمنځ د کوویډ-۱۹ له دې امله نامعلومه ده، څرنګه چې ازموینه یوازې په هغو افرادو پورې محدوده ده څوک چې د ناروغۍ شدیدې نښې نښانې ولري.

۴۰. یوناما ټاکل کې چې د ژغکیو د اصلاح په مرکزونو کې د بندي شویو ماشومانو له نیمه یې زیات هغه یې خوشې شوي. د کابل په استثنا، په دغه ډول مرکزونو کې چیرې چې ماشومان بندیان وو د کوویډ-۱۹ د خورا کم شمیر مثبتو پېښو په اړه خبر ورکړای شوی. د کوویډ-۱۹ د درلودو په شک تر تجرید کولو وروسته یوه هلک په کابل کې د ژغکو د اصلاح په یوه مرکز کې ځان وژنه وکړه.

۴۱. د رسنیو کارمندان او د بشري حقونو مدافعین د تاوتریخوالي او تهدیدونو له لوړو کچو سره مخ دي. د مۍ پر ۳۰ نېټه، د لاس جوړ چاودیدونکو توکو یوه برید چې مسوولیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا اخیستل شوی د خورشید تلویزیون د کارمندانو د عملې مني بس په نښه کړ چې له امله یې یو ژورنالست او یو تخنیکار ووژل شول او اوو نور کارمندان یې ژوبل کړل. د جولای پر ۱ نېټه، د ملي امنیت ریاست په خوست ولایت کې د دوو ژورنالستانو کورونه تلاشي کړي، چې د راپورونو له مخې یې د تلاشي امر نه درلود؛ پر همدې نېټه د ملي امنیت ریاست په زابل ولایت کې یو ژورنالست له دې امله ونیوه، چې د ادعاوو له مخې یې د ولسمشر په اړه په ټولنیزو رسنیو کې ناسمه ژبه کارولې.

۴۲. د مدني ټولنې سازمانونو او رسنیو ټولنې د بیان د ازادۍ او د انجمن/ټولنې جوړونې د ازادۍ اړوند ساحو کې د قانون د طرحې په اړه اندېښنه په ډاګه کړه. داسې انګیرل کیده چې د حکومت له خوا تر پاملرنې لاندې د نا دولتي ادارو په اړه د قانون مسوده پر ټولنو غیر ضروري محدودیتونه او د حکومت له خوا په نا متناسب ډول د حقوقي، اداري، مالي او عملیاتي موضوعاتو په ګډون ضوابط وضع کوي.

۴۳. د جون پر ۲۷ نېټه، د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د یوې وسیلې په کارونې سره یوه برید د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون دوه کارمندان ووژل. د دغه برید مسوولیت هیڅ لوري پر غاړه وانخیست. راپورونو له مخې د دولت ضد عناصرو له خوا په یوه بل ولایت کې د نوموړي کمیسیون یو بل کارمند ګواښل شوی. یوناما په زابل کې د یوې، په پکتیا کې د یوې، او په غزني کې د یوې چې کوم ځانګړي لوري ته نه دي منسوب شوي او دغه راز په د یوې هغې په ګډون چې طالبانو ته منسوب شوې د بشري حقونو د ځلورو مدافعینو وژنې مستندې کړي. په کابل دوه مشهور دیني عالمان ووژل شول، یو د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا په مسوولیت منل شوي یوه برید کې او بل هغه یې د نا معلومو دولت ضد عناصرو له خوا ووژل شو. د راپورونو له مخې د بشري حقونو دوه مدافعین د ځایي مشرانو او دولت ضد عناصرو له خو ګواښل شوي.

۴۴. یوناما د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته د ګډون او تعامل په پار د انتخابونو لپاره د سولې، بشري حقونو او پر قربانیانو د متمرکز عدالت اړوند موضوعاتو په اړه د سلا مشورو ورکول جاري ساتلي. د جون پر ۲ نېټه، نوموړی کمیسیون د مذاکره کوونکو لورو لپاره له وړاندیزونو او انتخابونو سره د سولې په پروسه کې د قربانیانو د شاملولو په اړه خپله موقف پاڼه (position paper) خپره کړه. د جون پر ۲۵ نېټه، د کمیسیون رئیسې امنیت شورا ته وینا وکړه، چې د کووید-۱۹ د اغیزو، په ملکي تلفاتو کې د جریاناتو، د سولې په پروسه کې د بشري حقونو د رعایت کولو، او پر قربانیانو د متمرکز عدالت د مهمو تدابیرو د اړتیا په اړه موضوعات یې تر پوښښ لاندې نیول.

**څلورم: د پرمختیایي مرستو همغږي**

۴۵. د دولت او پرمختیایي شریکانو ترمنځ د منل شوي کاري پلان سره سم د افغانستان په اړه د ۲۰۲۰ کال د وزیرانو سرمشریزې لپاره تیاریو دوام درلود. د جولای پر ۷ نېټه، د کنفرانس ګډو کوربانو افغانستان او فینلنډ له یوناما سره یو ځای د دوه اړخیزې حساب ورکونې د نوي کاري چوکاټ لپاره چې تمه کېږي په کنفرانس کې به تصویب شي، تیارۍ پیل کړې. د ګډو کوربانو له خوا ګمارل شوی د تسوید ټیم د دوه اړخیزې حساب ورکونې د نوي کاري چوکاټ د افغانستان د سولې او پرمختیا له ملي ۲ کاري چوکاټ له طرحې سره کوم پر تطابق متمرکز و چې د دولت له خوا د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې د جولای پر ۲۸ نېټه وړاندې شوې. د ارائه کولو د ښه کولو او د تر لاسه شویو موخو/پایلو په وړاندې د راپور ورکولو په موخه د نویو مهمو بدلونو پر معرفي کولو سربیره، نوموړي ټیم د اړوندې همکارۍ، څارنې، او تصدیقونې میکانیزمونه په پام کې نیسي. د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې مرسته کوونکو هیوادونو د بین الافغاني مذاکراتو د پیلولو، له اداري فساد سره د مبارزې، د قانون واکمنۍ ته د ودې ورکولو، د ښځو حقونو د ودې او د جنډر د شاملولو او د بې وزلۍ د راکمولو اړتیا په ډاګه کړه. تر دغې غونډې مخکې دوه نورې ناستې چې د جولای پر ۲۷ نېټه ترسره شوې په افغانستان کې د کووید-۱۹ پر اقتصادي اغیز، او پر پرمختیا او سولې متمرکزې وې.

۴۶. د جون پر ۲۸ نېټه، یوناما د *له اداري فساد سره د افغانستان مبارزه: د سولې او سوکالۍ لپاره حیاتي* تر عنوان لاندې له اداري فساد سره د مبارزې خپل څلورم کلنی راپور خپور کړ. د راپور له معلوماتو سره سم: په افغانستان کې له اداري فساد سره د مبارزې اصلاحات په ۲۰۱۹ کال کې سوکه شوي؛ د پخوانیو کلونو په پرتله له اداري فساد سره د مبارزې لپاره کم شمیر ستراتېژیک او قانوني نوښتونه ترسره شوي، او سازماني خلاوې او وظیفوي مسوولیتونه نه دي توضیح شوي. په راپور کې دا په ډاګه شوې چې له اداري فساد سره د مبارزې د پخوانۍ ستراتیژۍ موده له کوم بدیل/ځای ناستي پرتله د ۲۰۱۹ کال په ډسمبر کې پای ته رسېدلې او دا چې د قانون له انفاذ سره کمزوری ملاتړ د نیونو له ۲۵۵ امرونو څخه یوازې د ۱۷۳ د اجرا لامل شوي کوم چې د ۲۰۱۸ کال د جنیوا د کنفرانس له مخکې مودې راهیسې ځنډېدلي. دغه راپور له اداري فساد سره د مبارزې د یوې واقعي او اوږدمهاله ستراتیژۍ، له اداري فساد سره د مبارزې د کمیسیون لپاره د کمیشنرانو د چټکې ګمارنې او د اداري فساد د څېړنو لپاره ځانګړې شوې د قانون د تنفیذ د ظرفیت د غښتلي کولو لپاره سپارښتنې رانغاړي.

۴۷. د جون ۲۵ نېټه، د قانون د واکمنۍ او حکومتولۍ عالي شورا چې مشري یې د ولسمشر له خوا کیږي، د اداري فساد په وړاندې د مالیې وزارت، د ګمرکاتو او عوایدو ریاستونو او د دولت د تدارکات د سیستم د زیانمنتوب په اړه د ارزونې راپورونه تایید کړل. دغه راپورونو د جون پر ۲۸ نېټه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کمېټې له خوا خپاره شول. د کوویډ-۱۹ د خپریدو د مخنیوي لپاره د منابعو د ناسمې کارونې په اړه د رسنیو د راپورونو تر خپریدو وروسته، ولسمشر د جون پر ۳۰ نېټه دولتي ادارو د خلکو د شکایتونو د غور او څېړنې د مامور/بازرس دفتر ته د دغې موضوع په اړه د شکایتونو د ترلاسه کولو او څېړلو دنده وسپارله. د جولای پر ۱۳ نېټه، عالي شورا پریکړه وکړه چې له اداري فساد سره د مبارزې د ملي ستراتیژي بیا کتنه د دریو میاشتو په دننه کې نهایي کړي. د جولای پر ۱۶ نېټه، له اداري فساد سره د مبارزې ځانګړي دار الانشاء د ستراتیژي د تطبیق په اړه خپل کلنی راپور خپور کړ، چې په ۲۰۱۹ کال کې له ۱۰۲ معیارونو څخه د ۴۹ هغو بشپړول په ډاګه کوي، چې په دې سره د بشپړ شویو معیارونو شمیر ۸۹ ته لوړیږي.

۴۸. د جون پر ۸ نېټه، له اداري فساد سره د مبارزې عدلي مرکز خپلې محاکمې د کوویډ-۱۹ د لیرد د مخنیوي د یوه تدبیر په څیر، په ازاده فضا کې پرانستې. په جون او جولای میاشتو کې څلور محاکمې ترسره شوې، چې په دې د دغه مرکز له خوا د هغه له پرانیستل کیدو راهیسې د محاکمه شویو قضیو شمیر ۷۶ ته لوړ شو، چې ۲۸۹ تورن اشخاص په کې شامل وو. د جون پر ۲۳ نېټه، د سترې محکمې عالي شورا د له اړوند داخلي لارښوونو سره چې د جولای پر ۵ نېټه تصویب شوې، ویډیو کنفرانس ټکنالوجۍ په کارونې سره له لرې څخه د استماع ناستو اجازه ورکړه. د جون پر ۲۲ نېټه، د لوي څارنوال د دفتر دوه څارنوالان او د هغوی ما تحت کارمندان داسې مهال ووژل شول کله چې د طالب بندیانو د خوشې کولو په تړاو خپل کار ته پر لار وو. د جولای پر ۱۳ نېټه، د کابل په برېښنا کوټ سیمه کې یو څارنوال د خپل کار د اجرا پر مهال ووژل شو.

۴۹. دولت د ځاني اصلاحاتو د تطبیقولو تعقیبول جاري ساتلي. د جون پر ۸ نېټه، کابینې د مالیې وزارت، د عامې روغتیا وزارت، او د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري څخه یو کاري ګروپ جوړ کړ څو د کوویډ-۱۹ اړتیاوو ته ځواب ووایي. د جولای پر ۱ نېټه، ولسي جرګې په ملي بودجه کې تعدیلات تصویب کړل چې په نا امنه ولایتونو کې له پراختیایي پروژو څخه او له عملیاتي بوجې څخه پیسې د کوویډ-۱۹ اړوند فعالیتونو لپاره د بودجې نوی ردیف ته لیږدوي. د مدني ټولنې استازو خبرداری ورکړ چې د بودجې تعدیلات باید د نړیوالې بودجې د مشارکت د بشپړ شفافیت، عامه ښکیلتیا او باوري څار له لارښوونو سمون ولري.

۵۰. د *افغانستان د پرمختیا په اړه تازه معلومات: له طوفان څخه نجات* تر عنوان لاندې نړیوال بانک د جولای پر ۱۵ نېټه خپل راپور خپور کړ، چې په افغانستان کې یې په ۲۰۲۰ کال کې یې د ۵.۵ او ۷.۴ سلنې ترمنځ د اقتصادي رکود خبرداری ورکړی. د راپور له معلوماتو سره، د عوایدو په حاصلاتو کې د کمښت له امله د حکومت عواید سخت پرېوتي، چې دغه کار د مالیې د راغونډولو چارې هم ستونزمنې کړي. د عوایدو د پرېوتو او بیو د لوړیدو په تیره بیا د

خوړو او نورو اړینو توکو له امله د دې احتمال شته چې د بې وزلۍ کچه په ۲۰۱۷ کال کې له ۵۵ سلنې څخه په ۲۰۲۰ کال کې د ۶۱ او ۷۲ سلنې ترمنځ لوړه شي.

۵۱. حکومت د کوویډ-۱۹ د غبرګون په اړه له شریکانو سره خپل کار جاري ساتلی. د جون پر ۱۷ نېټه، ملي شورا د پیسو له نړیوال صندق څخه د ۲۲۹ میلیونه امریکایي ډالرو پور تایید کړ څو ناورین ته رسیدګي وشي. د جولای پر ۹ نېټه، نړیوال بانک د افغانستان د کوویډ-۱۹ د غبرګون د پراختیایي پالیسي مرسته چې ۲۰۰ میلیونه امریکایي ډالر کیده تصویب کړه څو له افغانستان سره د کوویډ-۱۹ د اغیزو په راکمولو کې مرسته وشي. د جولای پر ۱۸ نېټه، ولسمشر د حکومت د کوویډ-۱۹ د اقتصادي مرستو بسته پرانیسته چې موخه یې د ۲۴۴ میلیونه امریکایي ډالرو په کارولو سره د ۹۰ سلنه کورنیو سره ملاتړ کول و. په لومړي پړاو کې به ۸۶ میلیونه امریکایي ډالر د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې په ۱۳۰۰۰ کلیو کې له ۱.۷ میلیون د زیاتو کورنیو لپاره د خوراکي توکو د مرستې برابرولو لپاره ځانګړي شي. نړیوال بانک، ملګرو ملتونو او د پرمختیا لپاره د ډیټا کاري ګروپ د ازمایښتي پروژې د پیلولو لپاره تیارۍ بشپړې کړې چې هدف یې د احصائې او معلوماتو له ملي ادارې سره د ډیټا د راغونډولو او همکارۍ په ښه کولو کې مرسته ده. د دې لپاره چې د ۲۰۲۰ کال له اګست څخه د ۲۰۲۲ کال تر جنوري پورې تطبیق شي، له دغه نوښت سره د سولې جوړونې د ملاتړ د دفتر د بشړپالنې-پرمختیا-سولې جوړونې او مشارکت د ادارې له خوا د ۴۰۰۰۰۰ امریکایي ډالرو مرسته شوې.

۵۲. د کوویډ-۱۹ خپریدو پر ښځو او نجونو باندې د نا متناسب اغیز درلودل جاري ساتلي. داسې نښې نښانې شته چې ښځې د کوویډ-۱۹ په اړه معلوماتو او روغتیایي خدمتونو ته محدود لاس رسی لري، چې له امله یې هغوي د دندې له لاسه ورکولو، د تاوتریخوالي له لوړ کچو او د ماشومانو د ازدواج له پېښو سره مخ شوي. د اروپایي اتحادیې-ملګرو ملتونو د سپاټ لایټ ګډ نوښت د دې لپاره بیا له سره طرح شو څو د کوویډ-۱۹ اړوند په جنسي او د جنډر پر بنسټ په تاوتریخوالي کې زیاتوالي، د پوهنې تر پوښښ لاندې نیولو، د قربانیانو خدمتونو، قانوني اصلاحات او عدالت ته د لاس رسي موضوعاتو ته رسیدګي وکړي. د دغه درې کلن نوښت لومړی پړاو د ۱۶.۹ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت تمویل شوي او د هرات، کندهار او پکتیا په ولایتونو کې تطبیق شوی.

### پنځم: بشري مرستې

۵۳. د روان تاوتریخوالي، طبیعي پېښو او په لوړه کچه د خوړو د نا خوندیتوب له امله چې د کوویډ-۱۹ له وبا سره مله دي، په افغانستان کې د بشري مرستو اړتیاوې مخ پر لوړیدو دي. د ۲۰۱۹ کال په پای کې له ۹.۴ میلیونو څخه په ۲۰۲۰ کال کې شاو خوا ۱۴ میلیونه وګړي بشري مرستو ته د اړمنو هغه په څیر اټکل شوي. یو څو سکتوریز غبرګون چې د بشري مرستو د هیوادني ټیم او د بشري مرستو د همغږۍ د دفتر له خوا همغږي شوی او د ملګرو ملتونو او نا دولتي ادارو له خوا وړاندې شوي، پیلیدونکی دی.

۵۴. د اګست تر ۴ نېټې پورې، نږدې ۳۶۷۴۷ وګړي په ټول افغانستان د کوویډ-۱۹ تایید شوې مثبتې قضیې درلودې، چې له ۹ سلنې زیات یې روغتیایي کارمندان وو. له دغې ناروغۍ ټولټال ۲۵۶۶۹ خلک بېرته رغیدلي او ۱۲۸۸ خپل ژوند له لاسه ورکړی. له یوې سیستماتیکې څرک لګونې پرته، باور کیږي چې د دغې ناروغۍ له امله د مړینې کچه کمه اټکل شوې. د روغتیا عامه مرکزونه د توکو او روزل شویو کارمندانو د کمښت له امله د کوویډ-۱۹ د ناروغانو په درملنه کې د ننګونو په اړه راپور ورکول جاري ساتلي. په ټول هیواد کې ښاربندیز لا اوس هم پر ځای دی، سره له دې چې د میکروب د خپریدو د مخنیوي لپاره رامنځ ته شوي تدابیر د ولایتونو ترمنځ توپیر کوي.

۵۵. د کوویډ-۱۹ د وبا له پیل راهیسې، ملګري ملتونه او همکارې ادارې ۴.۷ میلیونه وګړو ته د خطر او د ټولنې د ګډون په اړه پیغامونه رسولي؛ ۲.۲ میلیونه وګړو ته یې د اوبو او روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي؛ د پولو په اوړدو کې یې د ۵۰۰۰۰۰ وګړو ازموینه ترسره کړې؛ ۲۱۸۰۰۰ وګړو ته یې رواني ملاتړ برابر کړي؛ او د ۵۴۰۰۰ ماشومانو لپاره یې په کورونو کې ښوونیز توکي برابر کړي.

۵۶. په پراخه کچه د خوړو ناخوندیتوب او د خوار ځواکۍ مخ پر زیاتیدونکې کچې د میلیونونو خلکو ژوند ګواښي. د ۴ میلیونو په ګډون چې په بیړني حالت کې دي، نږدې ۱۲.۴ میلیونه وګړي د خوړو د ناخوندیتوب په "ناوړین" او "بیړني" حالت سره مخ دي، چې دا د نړۍ یو تر ټولو لوړ ارقام ګڼل کیږي. ملګرو ملتونو او همکارو ادارو د مۍ د ۲۱ او جولای د ۳۰ نېټو ترمنځ ۲۶۰۶۲ میټرک ټنه خواړه برابر کړي چې د جګړې له خوا بې ځایه شوي ۶۹۶۷۳ وګړو، د کوویډ-۱۹ له خوا اغیزمن شویو ۴۷۲۰۳۱ وګړو او طبیعي پېښو او ناورینونو له خوا اغیزمن شویو ۱۶۵۰۶ وګړو ته یې رسیدنه کړې. په ښاري سیمو کې وبا ته غبرګون ۲.۳ میلیونه وګړو ته د ۲۷.۹ میلیونه امریکایي ډالرو د نغدو پیسو ویش رانغاړي چې د ۲۰۲۰ کال د جولای او ډسمبر ترمنځ به وویشل شي. د کال د پیل راهیسې د شدیدې خوار ځواکۍ لرونکو ۱۲۰۰۰۰ ماشومانو ته له ځانګړو/تخصصي مرستو سره رسیدنه شوې. د ۲۰۲۰ کال په جون او جولای میاشت کې، د کوویډ-۱۹ تر خپریدو د مخکې مودې په پرتله د اصلي خوړو بیې د پام وړ لوړې وې، چې د هغو وګړو د مقابلې کولو ظرفیت لا پسې ګواښي چا چې لا وار د مخه معیشتونه له لاسه ورکړي. دغه وضعیت د داخلي بېځایه شویو وګړو او بیرته راستنیدونکو ترمنځ لا زیات څرګند چې د دغو ګروپونو ترمنځ ښځې له سختو زیانمتوبونو سره مخ کیدونکې ګڼل کیږي.

۵۷. جګړې او طبیعي پېښو د بېځایه کیدنې رامنځ ته کیدل جاري ساتلي. د ۲۰۲۰ کال د مۍ له ۲۱ راهیسې، له ۱۹۵۳۰ څخه زیات وګړي د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شوي، چې د داخلي بېځایه شویو وګړو ټولټال شمیر ۱۱۲۷۰۰ ته لوړوي. د مۍ د ۲۱ او جون د ۳۰ نېټو ترمنځ، د روغتیا برخې همکارو ادارو له ۳۲۱۵۳۴ څخه د زیاتو وګړو لپاره طبي مرستې برابرې کړي، چې ۶۱ سلنه یې ښځې او نجونې دي. د ۲۰۲۰ کال د جنوري او اګست ترمنځ، ملګرو ملتونو او همکارو ادارو له ۵۲۰۰۰ څخه د زیاتو وګړو لپاره چې د پیشبینی شویو سیلابونو له خوا اغیزمن شوي بیړنۍ سرپناه، د کور سامان آلات او د نغدو پېسو مرستې برابرې کړي.

۵۸. په مارچ میاشت کې د لوړ شمیر په پرتله افغانستان ته د راستنیدونکو شمیر کم شوی. د مۍ د ۲۱ او د اګست د ۴ ترمنځ ۱۲۵۶۵۷ ثبت شوي او نا ثبت شوي راستنیدونکي راستانه شوي چې د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ نېټې راهیسې د راستانه شویو وګړو شمیر ۴۲۱۴۸۵ ته لوړوي. د ایران له اسلامي جمهوریت څخه را ایستل شوي (۱۳۲۰۶۶ نفر) د ټولټال راستنیدونکو ۳۱ سلنه جوړوي. د هیواد د اقتصادي چارو بیرته پیل او د اپریل پر ۲۷ نېټه د کوویډ-۱۹ د محدودیتونو په لرې کولو سره، ایران ته د افغانانو په تګ کې د پام وړ زیاتوالی لیدلی شوی. دغه تګ د غیر منظمو افغان کډوالو ترمنځ د ساتنې د زیات شمیر پېښو له راپورونو سره مل و. د جولای پر ۷ نېټه، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر یوه آنلاین غونډه ترسره کړه، چې د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان لپاره یې د نړیوال ملاتړ غوښتنه کوله، څو هغوي افغان کډوال د پوهنې او روغتیا په خپلو خدمتونو کې شامل کړي او له کډوالو او راستنیدونکو سره په خپله خوښه هیواد ته په راستنیدنه کې مرسته وکړي.

۵۹. د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یې کې د لاس جوړ ماینونو له امله په ملکي تلفاتو کې ۵۰ سلنه زیاتوالی رامنځ ته شوی. له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي لا اوس هم لوړ شمیر ملکي تلفات رامنځ ته کوي، چې ماشومان د قربانیانو ۸۰ سلنه جوړوي. د ۲۰۲۰ کال له اپریل څخه تر جون پورې، ملګرو ملتونو او د هغوي همکارو ادارو ۲.۹۷ مترمربع ځمکه چې پر پراخې سیمې اغیز ښیندونکو چاودیدونکو توکو ککړه وه، له ځمکنیو ماینونو پاکه کړې او دغه کار ۱۲ ټولنو ته ګټه رسولې. شاو خوا ۱۰۴۱۶۲ وګړو د ماینونو او چاودیدونکو توکو د خطر په اړه رزونه او پوهنه ترلاسه کړې.

۶۰. په پراخه کچه نا امني، د ماینونو شتون او د کوویډ-۱۹ له امله د خوځښت محدودیتونو د بشري لاس رسي لپاره ننګونې رامنځ ته کړې. د جنوري له ۱ راهیسې، مرستندویه کارمندانو د لاس رسي اړوند د ۴۶۳ پېښو په اړه راپور ورکړی، کوم چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د ۲۰۲۰ کال د مۍ د ۲۱ او اګست د ۳ ترمنځ، یو مرستندویه کارمند وژل شوی، ۶ ژوبل شوي او ۳۳ نور تښتول شوي. سربیره پر دې، د کوویډ-۱۹ له امله د خوځښت محدودیتونو بیروکراتیک خنډونه رامنځ ته کړي، چې د همکارو ادارو د پلان شویو فعالیتونو د څوکه کیدو لامل شوي.

۶۱. د پولیو دوه کمپاینونو له دې امله وځنډول شول چې روغتیايي کارمندان کوویډ-۱۹ ته د غبرګون په لور سوق شول که څه هم دغه کمپاینونه د جولای پر ۲۰ نېټه بېرته پیل شول. د ۲۰۱۹ د ټول کال د ۲۹ قضیو په پرتله د جنورۍ له ۱ راهیسې د اګست تر ۴ نېټې پورې د پولیو ۳۴ قضیې ثبتې شوي. زیاتره دغه قضیې په هغو سیمو کې رامنځ ته شوي چېرې چې د ۲۰۱۸ کال د مۍ میاشت راهیسې د کور په کور د واکسینو پر کمپاینونو بندیز لګیدلی. اوس مهال پولیو اتو نویو ولایتونو ته خپره شوې، چې د خلکو ترمنځ د معافیت د راکمیدو ښکارندوی دی.

۶۲. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د هوايي خدمتونو نړیوال پل د دې لپاره تاسیس شوی چې د کابل او دوحې ترمنځ د بشري مرستو د کارکوونکو نوبت تسهیل کړی، چې په دوامدار ډول په اونۍ کې درې پروازونه ترسره کوي او د ۲۰۲۰ کال د اپریل له ۲۴ نېټې څخه د اګست تر ۴ پورې یې ۷۲۴ مسافر لیږدولي. دغه هوايي پل به تر هغې فعالیت کوي تر کومې چې تجارتي پروازونو باوري انتخاب نه وي وړاندې کړی. دغه خدمتونه ټولو داخلي منزلونو ته منظم خدمتونه وړاندې کوي.

۶۳. د ۲۰۲۰ کال لپاره د بشري غبرګون بیا کتل شوي پلان د ۱.۱ بیلیون امریکايي ډالرو غوښته کوي څو د ۱۱.۱ میلیونه افغانانو لپاره بشري مرستې برابرې کړي. د اګست تر ۴ نېټې پورې، دغه پلان یوازې ۲۵ سلنه تمویل شوي چې د د ۸۵۲ میلیونه امریکايي ډالرو د تمویل تشه رامنځ ته کوي.

**شپږم: له نشه يي توکو سره مبارزه**

۶۴. د ۲۰۲۰ کال د نشه يي توکو نړیوال راپور، چې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو د دفتر له خوا د جون پر ۲۵ نېټه خپور شو په ډاګه کوي چې په افغانستان پر نا قانونه کوکنارو کښت شوې ساحه په ۲۰۱۸ کال کې له ۲۶۳۰۰۰ هکتارو څخه په ۲۰۱۹ کال کې ۱۶۳۰۰۰ هکتارو ته راکمه شوې، کوم چې ۳۸ سلنه کموالی په ډاګه کوي. خو له دې سره سره د آپیومو بالقوه تولید په شاو خوا ۶۴۰۰ ټنو کې په ثابت ډول پاتې دي له دې امله چې کومې ناروغۍ یا وچکالۍ د ۲۰۱۹ کال پر حاصل کوم اغیز نه دی کړی. راپور دغه راز په ډاګه کوي چې په ۲۰۱۸ کال کې د افغان د آپیومو تولید د ټولټال نړیوال هغه ۸۴ سلنه جوړوي، کوم چې په ۲۰۱۷ کال د ۸۸ سلنې په پرتله یو څه کمښت په ډاګه کوي. د ۲۰۲۰ کال د اپریل له ۳۰ د جولای تر ۱۴ نېټې پورې، د قانون نافذوونکو چارواکو د نشه يي توکو پر وړاندې ۲۵۳ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې یې ۱۵۸۰ کیلو ګرامه هیروین، ۱۲۰ کیلو ګرام مورفین، ۲۵۳ کیلو ګرامه آپیوم، ۱۳۰۵ کیلو ګرامه چرس، ۷۳ کیلو ګرامه مفامفتامین، ۵۸۴۰ لیټره فورمیک آسید او ۱۴۱ کیلو ګرام ترامادول نیول شوي. د دغو کوټو له ضبط سره د ۵ ملي پولیسو په ګډون ۴۸۶ شکمن کسان او ۸۲ نقلیه وسیلې او ۲۸ وسلې هم نیول شوي. سر بیره پر دې، د کورنیو چارو د وزارت په رهبرۍ د همغږي شویو عملیاتو په پایله کې د کوکنارو ۶۱۷ هکتاره کښت له منځه یوړل شو.

**اووم: د ماموریت ملاتړ**

۶۵. د جون تر ۳۰ نېټې پورې په ترتیب سره، د ۸ سلنې، ۳ سلنې او ۳ سلنې د منل شویو کچو په پرتله، په یوناما کې د نړیوالو کارکونکو لپاره د تشو پوستونو کچه ۸ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۳ سلنه او د داخلي کارکونکو لپاره ۳ سلنه وه. د نړیوالو کارکونکو لپاره د ۳۶ سلنې، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره د ۴۲ سلنې او د داخلي مسلکي کارکونکو لپاره د ۱۳ سلنې او د داخلي کارکونکو لپاره د ۹ سلنې په درلودلو سره د ښځینه کارکونکو د تناسب کچه ټیټ پاته شوې. د اپریل د ۱ او د جولای د ۳۱ تر منځ، یوناما د سړک له لارې ۲۵ ماموریتونه او د هوا له لارې ۸۸ ماموریتونه ترسره کړي.

۶۶. د کوویډ-۱۹ وبا ته په غبرګون کې یوناما په افغانستان کې د خپلو کارمندانو د روغتیا او سلامتیا د خوندي کولو لپاره یو لړ تدابیر خپل کړي په داسې حال کې چې په ټول هیواد کې یې د خورا مهمو پروګرامونو او فعالیتونو ترسره کول جاري ساتلي. د دغې موخې لپاره، ماموریت د کار بدیل تنظیمات تطبیق کړي چې په هیواد کې د نړیوالو کارمندانو او د هغو

داخلي کارمندانو په شتون کې چې د مۍ تر ۱۱ نېټې پورې یې د یوناما په دفترونو کې کار ته حاضرېدل د پام وړ کموالی رامنځ ته شوی. په داسې یوه وخت کې چې وبا په ډېره تېزۍ سره د خپرېدو په حال کې وه او کله چې ټولو سترو هوایي شرکتونو له افغانستان څخه او افغانستان ته خپل پروازونه وځنډول، یوناما فرانکفورت، جرمني، ادیس ابابا، اسلام اباد، او کتماندو ته د ځانګړو پروازونو لپاره د ماموریت شتمنۍ وکارولې څو خپل حضور راکم او مهمو کارمندانو نوبت ډاډمن کړي. ټول پروازونه د لګښت د بېرته تادیې پر بنسټ ترسره شوي. د ماموریت دغه شتمنۍ همدارنګه د هیواد په د ننه کې د طبي اخراجونې د عملیاتو لپاره په موثر ډول کارول شوي.

**اتم: ملاحظات**

۶۷. د ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله ترمنځ د سیاسي هوکړې پر نهایي کېدو د څو میاشتو تر تېرېدو وروسته هغه لا اوس هم په بشپړ ډول نه ده عملي شوې. په کابینه کې کلیدي او مهم پوستونه لا اوس هم خالي دي او د مصالحې د عالي شورا غړي لا تر اوسه نه دي ټاکل شوي. د حکومت په جوړونه کې ځنډونو د لومړیتوب لرونکو موضوعاتو د اړین پرمختګ مخه نیولې، په تیره بیا د سولې پروسې او د حکومتولۍ اصلاحات او دغه راز د کوویډ-۱۹ وبا ته غبرګون. زه له ولسمشر، د مصالحې د عالي شورا له رییس او د افغانستان له سیاسي مشرتابه غوښتنه کوم چې د کابینې جوړول او د لوړ پوړو ګمارنو پروسه چټکه کړي. څرنګه چې افغانان د سولې د خبرو اترو ته په تمه دي او نړیوال همکاران له دغه هیواد سره د هغوي راتلونکې مرستې په پام کې نیسي، یوه ټول شمول او متحد حکومت ته اړتیا ده چې په دغه خورا مهم وخت کې د ټولو افغانانو په ګټه کار ترسره کړي.

۶۸. د اخترونو د اوربند پرمهال له لنډو وقفو سره سره، په افغانستان کې د تاوتریخوالي کچه خورا لوړه چې د ټولو افغانانو لپاره ناوړه پایلې له ځان سره لري. زه د جګړې پر ټولو خواوو غږ کوم چې زر تر زره یې له کوم مخکینې شرط څخه تاوتریخوالی راکم کړي. دغه کار د افغانانو د ژوند او معیشتونو د ساتلو لپاره اړین دی. همدارنګه دغه چاره د دې له امله خورا مهمه ده څو افغانستان وکولای شي په موثر ډول د کوویډ-۱۹ وبا او نورو هغو فشار راوړونکو بشري ننګونو ته ځواب ورکړي له کومو چې ښایي دولت مخ وي. تر ټولو مهم دا، څرنګه چې افغانستان د سولې پر لور پر یوه اوږده مسیر مزل پیلوي د تاوتریخوالي کمول به د سولې د مذاکراتو لپاره اړینه فضا رامنځ ته کړي، چې د جګړې ښکیلې خواووې د دې وړ کوي چې په تدریجي ډول یو پر بل باور وکړي، او افغانان پر دې ډاډمن کوي چې د هغوي ګټې په پام کې نیول شوي.

۶۹. تمه کیږي چې د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبان به د یوې داسې سولې په اړه بین الافغاني مذاکرات پیل کړي، کومه چې د افغان وګړو یوه اوږد مهالې غوښتنه ده. زه د افغانستان پر اسلامي جمهوري او طالبانو غږ کوم چې دغه مذاکرات د ژمنتیا او پخلاینې په روحیه پیل کړي. دغه پروسه به چټکه یا اسانه نه وي. مطرح موضوعات پیچلې او د افغان ټولنې تر زړه رسیږي. دا پخپله په افغانانو پورې اړه لري چې د مذاکراتو محتویات او ماهیت معلوم کړي. دا مهمه ده چې دغه پروسه بالاخره د سولې پر یوې داسې هوکړې تمامیږي، کومه چې د بشري حقونو نړیوالو معیارونو ته د هیواد ژمنې تاییدوي، په سیمه کې له سولې او امنیت سره مرسته کوي او د افغان کډوالو او بېځایه شویو وګړو لپاره د دې زمینه برابروي څو خپلو کورونو ته په درناوي او منظم ډول راستانه شي. د سولې یوه ټول شموله پروسه په کومه کې چې ښځو، ځوانانو او د جګړې قربانیانو ونډه اخیستې وي، د پایښت لرونکې حل لپاره غوره هیله وړاندې کوي.

۷۰. د هغوي د دوامدارو غوښتنو سره سم، افغان میرمنو ته باید د دې فرصت ورکړل شي چې د سولې پروسې په ټولو کچو کې په فعال ډول ګډون وکړي. د مثال په ډول، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکره کوونکې ټیم ښځینه غړې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره په تیاریو له یو لړ شریکبانو سره په شدید ډول دخیلې وې. زه تمه لرم چې د مصالحې په عالي شورا به د لوړ پوړو منصبونو په ګډون د پام وړ شمیر ښځې وګمارلې شي، او دغه راز له طالبانو غوښتنه کوم چې په خپل مذاکراتي ټیم کې ښځې هم شاملې کړي. له ټولو خواوو تمه کیږي چې خپلې اړوند چارې ترسره کړي څو

ډاډمن کړي چې ښځې په مختلفو نقشونو کې ګډون کوي او دا چې د سولې پروسه د هغوي په ټول تنوع کې د افغان میرمنو تجربې او مهارتونه منعکسوي.

۷۱. څرنګه چې افغانستان د سولې مذاکراتو لپاره چمتوالی نیسي، دا خورا مهمه ده چې دولت ټولو افغانانو په ځانګړې ډول ښځو او نجونو ته د دې سیګنال ورکړي چې د هغوي د تر ټولو بنسټیزو بشري حقونو په اړه به هیڅ په شا تګ نه وي. زه د کورنۍ د قانون د مسودې د ځینو احکامو په تېره بیا د واده د عمر، د ځو ودونو، تر طلاق وروسته د ماشومانو د ساتنې او حضانت په اړه اندېښمن یم او څرنګه چې د قانون مسوده بیا کتل شوې زه پر دولت غږ کوم چې د ښځو د حقونو له فعالینو او د بشري حقونو له مدافعینو سره تعامل او ګډون وکړي.

۷۲. د سولې په پروسه کې پرمختګونو د افغانستان او د ګاونډیانو ترمنځ د همکارۍ اهمیت په ډاګه کړ. زه د سولې پروسې په ملاتړ کې د هیواد سیمه ییزو شریکبانو ترمنځ د زیاتې شوې لیوالتیا او د حکومت د هغو هڅو له امله هڅول شوی یم چې ګڼ شمیر څو اړخیز غونډ ځایونه ترتیب او تنظیم کړي څو د دوه اړخیزو ګټو د موضوعاتو په اړه سیمه ییز هیوادونه او دغه راز نور نړیوال شریکباړي سره دخیل کړي. څرنګه چې د سولې پروسه وده کوي، دا به د افغانستان لپاره د دې ارزښتمن فرصتونه برابر کړي څو له سیمه ییزو هیوادونو سره خپلې سیاسي، اقتصادي او کلتوري اړیکې پراخې کړي، او د دغه کار په ترسره کولو به د سیمې په ټیکاو او ښیرازۍ کې مرسته وکړي.

۷۳. جګړه لا اوس هم ولسي وګړو په ځانګړي ډول ښځو او ماشومانو ته څوک چې د جګړې د لسیزو په اوږدو کې له سخت جسمي او رواني ترما څخه کړېدلي، د وحشتناک زیان اړول جاري ساتلي. زه د ځمکنیو نښتو پرمهال په ګڼ میشتو ملکي سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو او د فشاري ماینونو کوم چې د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو په څیر کار کوي، کارونه غندم. ډېری دغه قربانیان د پېښې تر رامنځ ته کیدو وروسته د اوږد مهاله معلولیتونو، رواني ترما، مالي زیان، بې وزلۍ او د خپل راتلونکي په اړه د بې باورۍ له امله د اوږدې مودې لپاره کړېږي. د جګړې د ښکیلو خواوو لپاره دا خورا مهمه ده څو دغه زیان درک او رسیدګي ورته وکړي او د سولې په پروسه کې پر قربانیانو متمرکز عدالت را ونغاړي.

۷۴. د بشري حقونو مدافعین، د رسنیو کارمندان، د مدني ټولنې فعالین او د بشري حقونو د سازمانونو کارکوونکي د بنسټیزو حقونو په ساتنه او د ډیموکراتیکو ارزښتونو په وده کې خورا مهم ګڼل کیږي. هغوي نه باید په نښه شي. زه د جون په میاشت کې په کابل کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د دوه کارمندانو پر وژنې سخت خواشینی یم. زه د جګړې پر ښکیلو خواوو غږ کوم چې دغه ډول بریدونه ودروي. زه له افغان دولت غوښتنه کوم چې د دغو بریدونو په څېړنو کې شفافیت او موثریت یقیني کړي، څو دا ډاډمن کړي چې د دغو بریدونو عاملین زر تر زره د عدالت منګولو ته سپارل شوي او د څېړنو پایلې د قربانیانو له خپلوانو سره شریکې کړای شوي. له دولت څخه تمه کیږي چې د بشري حقونو د مدافعینو لپاره د موثرې ساتنې د میکانیزمونو د تطبیق لپاره هر شونی کار ترسره کړي، څو د دې وړ شي چې خپلې خورا مهمې چارې د تاوتریخوالي له کومې ویرې یا غچ پرته پرمخ یوسي.

۷۵. د افغانستان خوځنده مدني ټولنه او د رسنیو اداري یو خورا مهم ټولنیز رول لوبوي، کوم چې باید وساتل شي او ملاتړ یې وشي. زه د نا دولتي ادارو په اړه د قانون په مسوده د هغو احکامو په اړه اندېښمن یم کوم چې داسې بریښي چې پر ټولنو غیر ضروري محدودیتونه او د حکومت له خوا د هغوي پر فعالیتونو په نا متناسب ډول کنترول وضع کوي. د حکومت له خوا د تعدیلاتو د ځنډولو په اړه پریکړه په نورو مشورو کې د دخیل کیدو لپاره یو ښه فرصت برابروي. زه حکومت له مدني ټولنې، نا دولتي ادارو، او پرمختیایي او د بشري مرستو له شریکبانو د خپلو ډیالوګ جاري ساتلو ته هڅوم، څو ډاډمن کړي چې قانون د بشري حقونو له اړوندو معیارونو سره په سمون کې دي او د دغه خورا مهم سکتور چارې تسهیلوي.

۷۶. زه دلوړ پوړو چارواکو په ناسته کې چې په جولای کې ترسره شوه د افغان دولت او نړیوالو ډونرانو ترمنځ د رغنده ګډون او تعامل هرکلی کوم. په دغې ناستې کې ډونرانو د هیواد د پالیسي لومړیتوبونو د واقعي تسلسل لپاره او دا چې دولت د حکومتولۍ او پرمختیایي شاخصونو په وړاندې محسوس پرمختګ ترسره کړي، خپل څرګند تمایل په ډاګه کړ. څرنګه

چې د نړيوالې ټولنې پاملرنه د ۲۰۲۰ کال د وزيرانو د سرمشريزې کنفرانس لپاره تياريو ته اوښتې، د کوويډ-۱۹ وبا اقتصادي اغيزو مالي چاپيريال لا پسې محدود کړی، کوم چې به په راتلونکې کې د نړيوالو مالي مرستو پر اندازې اغيز وکړي. دغه کار د افغان دولت لپاره دا خور مهم ګرځوي څو د ملموسو اصلاحاتو د معرفي کولو لپاره خپل ژمنتوب په ډاګه کړي. زه له دولت څخه غوښتنه کوم چې له اداري فساد سره د مبارزې لپاره نور ګامونه پورته کړي کوم چې د افغان او نړيوالو شريکبانو ترمنځ د ژورو شکايتونو سرچينه ګڼل کيږي، د دولتي ادارو د ظرفيت لوړولو لپاره هڅې ګړندۍ کړي او په لوړ پوړي مشرتابه کې احتساب او د عامه خدمتونو له لارې صداقت ډاډمن کړي.

۷۷. د کوويډ-۱۹ وبا د ولسي وګړو زيانمنتوب زيات کړی، څوک چې لا وار د مخه د رواني جګړې او د بيا پېښيدونکو ناورينونو له امله اغيزمن شوي. دغه هيواد په بيړنې وضعيت کې د ۴ ميليونو وګړو په ګډون د ۱۲.۴ ميليونو هغو وګړو کور دي چې په سخت ډول د خوړو له ناخونديتوب سره مخ دي، کوم څه چې افغانستان د لوړې د ناورين د نړۍ يو تر ټولو ستر ځای ګرځوي. زه د دغه شاتګ په سيورې کې د هغه سخت زيان په اړه اندېښمن يم چې کوويډ-۱۹ وبا به يې د افغانستان پر وګړو او اقتصاد وارد کړي. تمه کيږي چې شا و خوا ۳۵ ميليونه وګړي به يو ډول نه ډول مرستو ته اړتيا ولري چې د وبا پر اغيزو برلاسي شي. په زيات احتمال چې د وبا پايلې به په ځانګړي ډول د تر ټولو زياتو زيانمنيدونکو افغانانو لپاره سختې وي، چې زياتره يې د خپلو کورنيو د ملاتړ لپاره د عايد پر ناخوندي سرچينو متکي دي. د ملګرو ملتونو په ګډون د افغانستان د بشري مرستو شريکباني به له حکومت سره اړمنو وګړو ته د بيړنيو مرستو په برابرولو کې خپل ملاتړ جاري وساتي. زه پر مرستندويه هيوادونو غږ کوم چې د بشري غبرګون له نوي شوي پلان کوم چې په سخت ډول نا تمويل شوی پاتې دی، سره خپل سخاوتمندانه ملاتړ پيل کړي څو د وبا پر مهال او تر هغې وروسته د بشري مرستو د پر وخت رسونې او د رواني ټولنيزې ساتنې لپاره زمينه برابره شي.

۷۸. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو او زما د ځانګړې استازې، ديبورا لاينز څخه، تر ننګونو ډکو شرايطو لاندې د هغوي د کار چې موخه يې د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.

**ضمیمه**

د معیارونو په وړاندې تر لاسه شوی پرمختګ
**لومړی. امنیت**

**معیار: پایښت لرونکې افغان امنیتي ادارې او پروسې چې د سولې او ټیکاو د ډاډمنولو او د افغان وګړو د ساتنې وړتیا ولري**

| د پرمختګ شاخصونه | مټریکس |
|---|---|
| له توافق شوي جوړښت سره سم، د رهنمايي شوي، روزل شوي او عملیاتي افغان ملي پولیسو او ملي اردو د پرسونلو شمیر زیاتول | • د راپور ورکولو په موده کې، دولت د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۷ کال لار نقشې تطبیقول جاري ساتلي و، چې موخه يې وړتیاوو ته لا زیاته وده ورکول، د مشرانو روزل، د قوماندې او نظامي هڅو د توحید ډاډمنول او له اداري فساد سره مبارزه ده. افغان ملي امنیتي ځواکونه لا اوس هم پر بهرني تمویل متکي دي (د افغان امنیتي ځواکونو لپاره د امریکا د متحده ایالاتو وجهي صندوق، د افغان ملي اردو لپاره د شمالي اتلانتیک د تړون د سازمان وجهي صندوق او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له خوا تطبیق شوی).<br>• افغانستان د ملي اردو د روزنې په هڅو کې پرمختګونه ترسره کړي. د دفاع وزارت د توحید شوې روزنې، ښوونې او ډاکترین قوماندې سره اردو "بشپړه عملیاتي وړتیا" ترلاسه کوي؛ وزارت خپل ۱۳ "فرعي تعلیمي مرکزونه" په څلورو "وړتیاوو مرکزونو" (محاربوي ځواک، محاربوي ملاتړ، د محاربوي خدمتونو ملاتړ او عمومي خدمتونه) کې مدغم کړل؛ او یو زیات شمیر سرتیري له لومړنیو زده کړو وروسته نیغ په نیغه پرمختللو روزنو ته لار پیدا کوي.<br>• په افغان امنیتي ځواکونو کې د پرسونلو اوسنی شمیر په لاندني جدول کې وړاندې شوی. د ۲۰۲۰ کال په اپریل کې، د دفاع او کورنیو چارو وزارت له خوا د تېښتې (د دندې د پرېښودو[1]) کچه په ترتیب سره ۲.۱ او ۲.۶[2] راپور کړې، کومه چې له احصایي نورمونو سره په سمون کې ده. |

**د افغان امنیتي ځواکونو پرسونل**

| د ځواک عنصر | عمومي صلاحیت لرونکی واقعي شمیر[الف] | شمیر | واقعي شمیر (د ۲۰۲۰ تر اپریل پورې) |
|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو [ب] | ۲۲۷۱۰۳ | ۱۸۲۱۷۳ | ۱۸۲۷۴۷ |
| افغان ملي پولیس | ۱۲۴۶۲۶ | ۹۹۳۷۵ | ۱۰۵۶۷۱ |
| ټولټال | ۳۵۱۷۲۹ | ۲۸۱۵۴۸ (۸۰ ٪) | ۲۸۸۴۱۸ (۸۲ ٪)[ج] |

*سرچینه:* د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش، *د متحده ایالاتو کانګرس ته ربعوار راپور*، ۳۰ جنوري ۲۰۲۰؛ د امریکا متحده ایالات، د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش، *د متحده ایالاتو کانګرس ته ربعوار راپور*، ۳۰ اپریل ۲۰۲۰.

[1] په دې زمینه کې "تېښته یا دنده پرېښودل" اصطلاح په دې مانا چې پرسونل وظیفې ته نه حاضرېږي، نه تلفات.
[2] د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش، *د متحده ایالاتو کانګرس ته ربعوار راپور*، ۳۰ اپریل ۲۰۲۰.

الف) د ۱۱۶۶۳ ملکیانو په ګډون (۵۷۹۰ د دفاع وزارت او ۵۸۷۳ د کورنیو چارو وزارت،
ب) د افغان هوایي ځواک په ګډون،
ج) سلنې اټکلې دي

**دویم. سوله، له ټولنې سره یو ځای کیدل او پخلاینه**

**معیار: د سولې د مساعد سیاسي چاپیریال د تقویې لپاره د رغنده او ټوله شموله پروسې د تعقیب په موخه ملي ډیالوګ او سیمه ییزه ښکیلتیا**

| د پرمختګ شاخصونه | مټریکس |
| --- | --- |
| د سولې، ادغام او پخلاینې هڅو د تقویې لپاره د ټول شموله ملي او سیمه ییزو پروسو طرح او تطبیق | • د ۲۰۱۹ د اپریل پر ۷ نېټه، دولت د سولې او پخلاینې لپاره له ۳۷ اشخاصو څخه تشکیل د رهبرۍ شورا د جوړولو اعلان وکړ، څو له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره په سیاسي ډول یو ټول شموله مشورتي ټیم رامنځ ته کړي.<br>• د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۲۹ نېټه، دولت په کابل کې د سولې په اړه یوه پنځه ورځنۍ مشورتي لویه جرګه دایر کړه، چې موخه یې له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د پارامیټرونو/حدودو جوړول وه. په دغې جرګه کې له ټول هیواد څخه له ۳۰۰۰ څخه زیاتو استازو ګډون کړی و، چې ښځو د استازو ۳۰ سلنه جوړوله، له ۵۰ کمیټو څخه یې د ۱۳ هغو مشري کوله او د جرګې له پنځو مرستیالو له جملې څخه د دوو هغو په څېر یې چارې ترسره کولې. د وخت اجرایي رئیس عبد الله، او دغه راز د ولسمشرۍ لپاره د نوماندانو په ګډون زیاترو مخالفو سیاستوالو له جرګې سره پریکون وکړ او ادعا یې کوله چې دا د ولسمشر غني د دویم ځل انتخاب کیدو د ټاکنو لپاره د کمپاین کولو په موخه جوړه شوې.<br>• د ۲۰۱۹ کال د می پر ۲۸ نېټه، د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون د افغان سیاستوالو یو ۲۴ کسیز پلاوي د طالب له ۱۴ استازو سره یو ځای په مسکو کې په غونډه کې ګډون وکړ چې د افغانستان او د روسیې فدراتیف ترمنځ یې د ډیپلوماتیکو اړیکو ۱۰۰ کال لمانځه. د طالبانو د پلاوي مشري د طالبانو د سیاسي کمیسیون د مشر ملا عبد الغني برادر له خوا کیده.<br>• د بین الافغاني سولې کنفرانس لپاره تر دوه ورځو ځنډ وروسته، د افغانستان سولې او پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د ۲۰۱۹ کال د جون پر ۲۹ او جولای پر ۹ نېټه په دوحه کې له طالبانو سره خبرې اترې ترسره کړې. د جرمني او قطر هیوادونه په ګډه د دغه کنفرانس کوربه وو چې د افغان دولت استازو په کې په خپل شخصي ظرفیت، او د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او طالبانو استازو په کې ګډون کړی و. ګډونوال پر یوې دوه صفحه ییزې اعلامیې اجماع ته ورسیدل چې پر ټولو ښکیلو خواوو یې غږ کاوه چې د ټول شموله مذاکراتو له لارې د سولې د ترلاسه کولو لپاره د افغانانو غوښتنه پوره کړي. دوي همدارنګه د بندیانو د خوشې کولو، د عامه زیربناوو د ساتلو او په ملکي تلفاتو کې د کمښت غوښتنه وکړه او په ډاګه یې کړه چې تر جګړې وروسته افغانستان باید اسلامي قضایي سیستم ولري، او په سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو او کلتوري چارو کې د ښځو حقونه به د اسلامي |

ارزښتونو د اسلامي چوکاټ يوه برخه وي او د ټولو قومي ډلو ترمنځ په مساوات په پام کې نيول کيږي.

- د دولت د سولې له طرحې سره سم، د ۲۰۱۹ کال د جون پر ۲۹ نېټه، ولسمشر خپل پخواني د دفتر رئيس سلام رحيمي د سولې په چارو کې د دولت د وزارت د وزير په څير اعلان کړ او د ۲۰۱۹ کال د جولای پر ۲۷ نېټه يې د يوه فرمان په صادرولو سره د سولې عالي شورا منحل کړه.
- د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۷ نېټه، د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې لغوه کړې. خبرې اترې د ۲۰۲۰ کال د جنوري په منځ کې د راپورونو له مخې د طالبانو د مشرانو ترمنځ په تاوتريخوالي کې د وړانديز شوي کمښت په اړه تر داخلي سلا مشورو وروسته بيرته پيل شوې.
- د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۱ نېټه، د متحده ایالاتو د بهرنيو چارو وزير مايکل پمپيو اعلان وکړ چې د متحده ایالاتو مذاکره کوونکي له طالبانو سره "په ټول افغانستان کې د تاوتريخوالي د کمولو" په اړه يوه پوهاوي ته رسيدلي. د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۲ نېټه په تاوتريخوالي کې د کمښت موده پيل شوه.
- د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه، د څو مياشتو تر مذاکراتو وروسته متحده ایالاتو او طالبانو په دوحه کې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ افغانستان ته د سولې راوستلو په اړه موافقه لاسليک کړه، په کومه کې چې په ډاګه شوي چې د ۱۳۵ ورځو په د ننه کې ۸۶۰۰ ته د امريکايي او د ايتلافي ځواکونو په شمير کې نسبي کموالي، چې په تعقيب به يې د ۹.۵ مياشتونو په د ننه کې ټول ځواکونه وځي، دغه کار د طالبانو له خوا له تروريزم سره د مبارزې د مختلفو ژمنو په پوره کولو پورې مشروط دی. په ورته ورځ په کابل کې ، د افغانستان د سولې راوستلو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوريت او د متحده ایالاتو ترمنځ ګډه اعلاميه خپره شوه. په دواړو سندونو کې د متحده ایالاتو د هغو هڅو يادونه شوې چې له افغانستان او طالبانو سره د باور جوړونې د تدابيرو د رامنځ ته کولو په موخه ډيالوګ تسهيل کړي، لکه تر بين الافغاني مذاکراتو مخکې د بنديانو او توقيفيانو احتمالي خوشې کول او د طالبانو پر غړو د امنيت شورا د بنديز د ممکنه لرې کولو په تړاو د ډيپلوماتيکو هڅو ترسره کول.
- افغانستان ته د سولې راوستلو له اعلامې او د افغانستان د اسلامي جمهوريت او د امريکا د متحده ایالاتو ترمنځ د ګډې اعلامې سره سم، د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۹ نېټه متحده ایالاتو د ۱۳۵ ورځو په اوږدو کې ۸۶۰۰ شمير ته د ځواکونو د مشروطې راکمونې د پيل اعلان وکړه.
- د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۱۱ نېټه، افغان ولسمشر په دوو پړاونو کې د ۵۰۰۰ بنديانو د خوشې کولو فرمان لاسليک کړ. د ۱۵۰۰ زندانيانو لومړۍ جوپه به د عمر، روغتيا او پاتې سزا پر بنسټ خوشې شي. پاتې ۳۵۰۰ طالب بنديان به په بين الافغاني مذاکراتو کې د پرمختګ او د طالبانو له خوا په تاوتريخوالي کې د نور کمښت په شرط خوشې شي. ټولو خوشې کيدنو د دې تضمين ته اړتيا درلوده چې بنديان به بيرته جګړې ته نه ستنيږي. د طالبانو وياند نوموړی فرمان "د قناعت وړ نه ګڼه" او د مذاکراتو تر پيل مخکې يې د ټولو بنديانو د خوشې کولو غوښتنه بيا تکرار کړه.

- د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۲۶ نېټه، د سولې د چارو لپاره د دولت وزارت د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکره کوونکې ټیم جوړول اعلان کړل. د ملي امنیت د ریاست د پخواني رئیس په مشرۍ دغه ۲۱ کسیز ټیم د څلورو ښځو په ګډون د مختلفو سیاسي او ټولنیزو قشرونو له استازو تشکیل دی.
- د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۱۴ نېټه، د متحده ایالاتو او د طالبانو استازو د بیلا بیلو اعلامیو په خپرولو سره د هغوي ترمنځ د موافقې پر لاسلیک کولو د ۱۳۵ ورځو تیریدل ولمانځل. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت اعلان کړه چې له موافقې سره سم، متحده ایالات له پنځو هډو وتلې او د ځواکونو شمیر یې تر ۸۰۰۰ پورې راکم کړی. د افغانستان سولې او پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زیاته کړه چې د ناټو ځواکونو شمیر په نسبي ډول راکم کړای شوی. د طالبانو ویاند د نړیوالو نظامي ځواکونو د شمیر د کمولو او د هډو تړلو هر کلی وکړ، خو تر څنګ یې د بندیانو په خوشې کولو او د بندیزونو له لیست څخه د طالبانو د غړو د نومو په لرې کولو کې د ځنډ یادونه وکړه.
- د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۳۰ نېټه، طالبانو څرګنده کړه چې هغوي د فبروري د ۲۹ نېټې له موافقې سره سم د ټولو پاتې بندیانو خوشې کول بشپړ کړي او د لوی اختر څخه وروسته د بین الافغاني مذاکراتو د پیلولو لپاره چمتو دي، په دې شرط چې افغان دولت د لیست سره سم ټول بندیان خوشې کړي. د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۳۱ نېټه، افغان ولسمشر د مشورتي لویې جرګې د دایرولو اعلان وکړ ترڅو په لیست کې د پاتې ۴۰۰ بندیانو د خوشې کولو په اړه پریکړه وکړي او دا چې دولت به ټولټال ۵۱۰۰ طالب بندیا خوشې کړي څو د سولې پروسه ګړندۍ کړي.

د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب تاسیس شوې، د تازه او کره معلوماتو د راغونډولو او وړاندې کولو کې د افغان چارواکو له خوا زیاته شوې ورتیا

- په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو کې، دولت د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب تاسیس شوې، د تازه او کره معلوماتو راغونډول او وړاندې کول جاري ساتلې.
- د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۳۰ نېټه، د تحلیلي ملاتړ او د بندیزونو د څارنې ټیم د ۲۲۵۵ (۲۰۱۵) شمیره پریکړه لیک سره سم د طالبانو او په هغوي پورې د اړوند اشخاصو او ادارو په اړه چې د افغانستان سولې، ټیکاو او امنیت ته ګواښ پیښوي(S/2019/481)، خپل راپور خپور کړ. د ۲۰۲۰ کال د اپریل پر ۳۰ نېټه، د تحلیلي ملاتړ او د بندیزونو د څارنې ټیم د ۲۵۰۱ (۲۰۱۹) شمیره پریکړه سره سم د طالبانو او په هغوي پورې د اړوند اشخاصو او ادارو په اړه چې د افغانستان سولې، ټیکاو او امنیت ته ګواښ پیښوي(S/2020/415) خپل یولسم راپور وړاندې کړي. دغه راپورونه تر ډیره د هغو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوي چې د افغان چاواکو له خوا برابر شوي.

د ټولنې په کچه او له مدني ټولنې سره د ښکیلتیا له لارې د سولې پروسې لپاره د خلکو زیات شوی ملاتړ

- د ۲۰۱۹ کال د فبروري پر ۲۸ نېټه، په ټولو ۳۴ ولایتونو کې له ۱۵۰۰۰ افغان میرمنو سره د شپږ میاشتنیو سلا مشورو په تعقیب، د لومړۍ میرمن دفتر د سولې د عالي شورا، د ښځو چارو د وزارت، د افغان ښځو د شبکې او د مدني ټولنې د سازمانونو په ملاتړ د سولې لپاره د افغان میرمنو ملي کنفرانس ترسره کړ چې ولسمشر ته د یوې ۱۵ نقطه ییزې اعلامیې په وړاندې کولو سره پای ته ورسید، چا چې ژمنه وکړه چې هغه

به د سولې په اړه په پنځه ورځنۍ مشورتي جرګه کې په پام کې ونیسي کومه به چې د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۲۹ نېټه په کابل کې ترسره شي.

- د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې په ننګرهار ولایت کې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) په شیرزادو ولسوالۍ کې د دوه قبیلو ترمنځ د سولې جرګه تسهیل کړه، په کومه کې چې د لومړي ځل لپاره ښځو هم ګډون کړی و. دغه جرګه د یوه پریکړه لیک په منلو سره چې د اوبو پر سر شخړه حل کوي، پای ته ورسیده. د ۲۰۱۹ کال په جولای کې په کونړ ولایت کې، د دوو قومونو ترمنځ سلا مشورې تسهیل کړې چې د سولې په جرګې تمامې شوې او د ځمکې پر سر د لسیزو اوږده جګړه یې پای ته ورسوله؛ د جرګې څلورمه برخه ښځې وې.
- یوناما د خپل نفوذي ظرفیت په کارونې سره، په افغان سولې پروسه کې د افغان میرمنو د ګډون ملاتړ وکړ. د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر له ۱۵ تر ۱۷ نېټې پورې، یوناما د افغان ښځو لپاره له پوهنیز مرکز سره یو ځای د سولې په پروسه کې د افغان میرمنو لپاره د هڅوي د ستراتیژیک ګډون په اړه د یوه ورکشاپ چې په کابل کې ترسره شو، کوربه وه. په هلمند ولایت کې، یوناما د دیني علماؤو او ښځو ترمنځ د تاوتریخوالي د راکمولو لپاره د هڅو او دا چې څرنګه د سولې په ملاتړ د ښځو، ځوانانو او لړکیو نقش غښتلي کیدای شي، د ډیالوګ لپاره یو پلاټفورم برابر کړ. یوناما دغه راز د پنځه میاشتنۍ مودې په اوږدو کې د افغانستان د ولیدیځو سیمو له ۱۰۰۰ څخه زیاتو ښځو سره کار کړی او له هڅوي سره یې د سولې په اړه د هڅوي لیدلوري په پراخولو کې مرسته کړې، چې د ۲۰۲۰ کال د جنوري پر ۹ نېټه د یوه ۱۳ نکته ییز پریکړه لیک په خپرولو پای ته ورسید چې د تیرو ۱۸ کلونو د لاسته راوړنو د ساتلو، د تیر ظلمونو او ناخوالو ته د رسیدګۍ، پر قربانیانو متمرکزه د سولې پروسې او د نهایي سولې موافقې لپاره د څارنې د میکانیزم د تاسیسولو اړتیا یې په ډاګه کوله. د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۰ نېټه، یوناما د ښځینه فعالینو په ګډون له دولت او د مدني ټولنې له مشرانو سره سلا مشورې ترسره کړې، ترڅو په حکومت او راتلونکو بین الافغاني مذاکراتو کې د میرمنو د رهبري نقش څخه د ملاتړ پر اړتیا ټینګار وشي.
- د فبروري پر ۱۶ نېټه په غزني ولایت کې، د سولې ولسي حرکت د سولې په ملاتړ یو لاریون ترسره کړ، په کوم کې چې د پښتنو، هزاراګانو او تاجک ټولنو استازو ګډون کړی و. د لاریون ګډونوالو د پایښت لرونکې سولې، اوربند او د تاوتریخوالي د پای ته رسولو غوښتنه کوله.
- د ۲۰۲۰ کال په اپریل او مۍ میاشتو کې، یوناما د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته د دې په ګډون چې د سولې پروسې او عامه خبرو اترو ته د قربانیانو لیدلوري څرنګه راوړل شي، د سولې، بشري حقونو او انتقالي عدالت د موضوعاتو په اړه د ګډون د انتخابونو په تړاو خپلې سلا مشورې جاري ساتلې.
- په ورته موده کې د ځایي راډیويي خپرونو له لارې، په ۲۵ ولایتونو کې ځایي چارواکو او ټولنو د بشري مرستو د رسولو لپاره د جګړې د درولو، سولې او د کوویډ-۱۹ د مخنیوي غوښتنه وکړه. د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ښځو شورا کومه چې د یوناما له خوا د سولې د ځایي نوښت له لارې جوړه شوې، خپلې هڅې د کوویډ-۱۹ د مخنیوي د هڅو

په لور سوق کړي. په ورته ډول، په کابل کې ښځو او ځوانانو ګروپونو د سولې د پيغامونو ترڅنګ د کوويډ-۱۹ د مخنيوي پيغامونو د خپرولو لپاره د خواله رسنيو کانالونه کارولي او له ځايي چارواکو او د ملګرو ملتونو د هيوادني ټيم له غړو سره دخيل شوي څو زيانمنيدونکو کورنيو ته د مرستو په ويش کې مرسته وکړي.

- د ۲۰۲۰ کال په جون کې د هيواد په شمالي سيمو کې، يوناما د سولې يو ځای نوښت ترسره کړه چې د ۱۶ ځوانو فعالينو څوک چې د سولې په مدافعه کې روزل شوي او له څلور ولايتونو څخه له ۱۲۰ څخه زياتو استازو سره د چا ګډون چې د يوه ۴۱-ماده ييز پريکړه ليک په را منځ ته کيدو تمام او په ټول هيواد کې مشهور شو، له يوه ټول شموله ګروپ سره مرسته وکړه.
- د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۸ نېټه، د مدني ټولنې د سازمانو يو مشورتي هيئت يو ميکانيز پيل کړ چې موخه يې د مذاکرې ميز ته د ټولنې له مختلفو برخو څخه د غړونو راوړل و، او د مدني ټولنې مختلف فعالين د دې لپاره د پلانونو پر جوړولو بوخت و، چې څرنګه د سولې په اړه خپل لومړيتوبونه مطرح کړي.

**دريم. حکومتولي او د ادارو جوړونه:**

**معيار: په ځايي کچه د پاليسي ګانو د تطبيق ظرفيت او خپلو ځانونو د ساتلو له زياتيدونکې وړتيا سره د ډيموکراتيکو، قانوني، او حساب ورکوونکو ادارو د جوړولو له لارې په ټولو هيواد کې د حکومت د واک پراخول.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مټريکس* |
|---|---|

| | |
|---|---|
| د ښځو ګډون او په قانوني ډول د ورکړل شوې ونډې په پام کې نیولو سره، د حقیقي او مهالنیو ټاکنو ترسره کولو لپاره د افغان چارواکو او د خپلواکو ټاکنیزو ادارو زیاته شوې ورتیا | • د راپور ورکولو په موده کې دواړو د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون خپل عملیاتي پلانونه، او دغه راز د ظرفیت لوړولو او روزنې پلانونه بشپړ کړي کومو چې د فعالیتونو او پروسو په اړه یوه مفصله کتنه وړاندې کړه او دا ډاډمنوي چې ټول اړین فعالیتونه په ګوته او تسلسل کې شوي او دا چې فعالیتونه هغه قانوني شرایط پوره کوي کوم چې د ټاکنو په تعدیل شوي قانون، مقرارتو، طرز العملونو او لارښونو کې په ډاګه شوي. په دندو کې د رایه ورکونکو د ثبت، د نوماندانو د ثبت د رایې اچونې او رایې پاڼو د شمیرنې لپاره د تیارېو، دغه راز د دویم ځل ټاکنو لپاره پلان جوړونه او د ټاکنو له ترسره کیدو وروسته فعالیتونو په ګډون، د شریکباڼو ښکیلول، له اړوندو همکارانو او ادارو سره همکاري، او انتخاباتي عملیات شامل دي څو د افغان د ټاکنیزو ادارو پوتنشیال غښتلی کړي چې باوري، ټول شموله او شفافې ټاکنې ترسره کړي. |
| | • د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د رایه اچوونکو د ثبت پلان جوړونه طرح کړې، او له سختو سلا مشورو وروسته، کمیسیون مخکنیو ثبتونو ته په کتو د تکمیلي ثبت چارې یوازې د نوو رایه اچوونکو په ثبت پورې محدودې کړې. کمیسیون دغه راز د ټکنالوجۍ کارونه په ځانګړي ډول د رایه اچوونکو د ثبت او تصدیق او د پایلو د لیږد او مدیریت په برخه کې (د رایه اچوونکې د ثبت بایومټریک او د رایه اچوونکې د تصدیق بایومټریک) تایید کړه. |
| | • د ۲۰۱۹ کال په مارچ کې، ولسمشر د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته اوو نوې کمیشنران او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته پنځه نوي کمیشنران او دغه د دواړو کمیسیونو د دار الانشاؤ لپاره نوي رئیسان وټاکل. دغه نوي ګمارل شوي کسان د سیاسي ګوندونو او د مدني ټولنې د سازمانو له خوا نومول شوي وو او د ۲۰۱۹ کال د مارچ پر لومړۍ نېټه د ولسمشرۍ لپاره د ۱۷ نوماندانو له خوا انتخاب کړای شول. |
| | • د ۲۰۱۹ کال په مۍ کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو د ۳۳ ولایتونو لپاره وروستۍ پایلې بشپړې کړې. په مۍ میاشت کې، ولسمشر د هر کمیسیون لپاره دوه دوه رایه نه اچوونکې نړیوال کمیشنران وټاکل. |
| | • د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۲۸ نېټه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ولسمشریزې ټاکنې ترسره کړې. د ټاکنو لومړۍ پایلې د ۲۰۱۹ کال په ډسمبر او وروستۍ پایلې د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې اعلان شوې، چې اوسنی ولسمشر ښاغلي غني د ۵۰.۶۴ سلنې رایو په ترلاسه کولو سره د ټاکنو ګټونکې اعلان کړ، په داسې حال کې چې د وخت اجرائیه رئیس ښاغلي عبد الله د ټولو ټاکنو ۳۹.۵۲ سلنه رایې تر لاسه کړې وې. |
| | • د ولسمشریزو ټاکنو د وروستیو پایلو په اړه د سیاسي بن بست په تعقیب، د ۲۰۲۰ کال د مۍ پر ۱۷ نېټه ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله یو تړون لاسلیک کړ چې د ښاغلي عبد الله لپاره د وزیرانو او والیانو د ګمارنې؛ د حکومت د عالي شورا او د مصالحې د عالي شورا |

د جوړولو؛ ټاکنیزو اصلاحاتو؛ او د مارشالۍ رتبې ته ولسمشر د پخواني لومړي مرستیال ترفیع کولو په ګډون په حکومت کې ۵۰ سلنه ونډه ځانګړې کوي. دغه تړون لا تر اوسه په بشپړ ډول نه دی عملي شوی.

**له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې کمېټې تاسیسول او د فساد پر وړاندې د مبارزې د معیارونو جوړول**

- په ۲۰۱۹ کال کې، له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې کمېټې د اداري فساد په وړاندې د ملي شورا، د کورنیو چارو د وزارت او د بهرنیو د وزارت د زیانمتوب د ارزونو په ګډون خپل ۱۸ راپورونه خپاره کړل. د ۲۰۲۰ په جنوري میاشت کې، نوموړې کمېټې د مالیې وزارت په اړه یو راپور او د ۲۰۲۰ کال په جولای کې، د اداري فساد په وړاندې د دولتي تدارکاتي سیستم او د ګمرکاتو او عوایدو د ریاستونو د زیانمنتوبونو ارزونې خپرې کړې.
- د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې، کابینې د شتمنۍ بیرته ترلاسه کولو مقررات تصوب کړل، چې په دې سره د شتمنۍ د بیرته ترلاسه کولو په اړه قانوني چوکاټ بشپړوي.

**له اداري فساد د مبارزې د ادارو پیاوړتیا څو له اداري فساد سره د مبارزې د حکومت پر بشپړ روش نظارت وکړي**

- د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشت کې، له اداري فساد سره د مبارزې ځانګړې دار الانشاء له اداري فساد سره د مبارزې د ۲۰۱۷ کال د ملي ستراتیژۍ د تطبیق په اړه د ۲۰۱۹ کال راپور خپور کړ، په کوم کې چې د دې په اړه خبر ورکړل شوی، چې په شپږو برخو کې د ټولټال له ۱۰۲ معیارونو څخه په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې ۸۹ هغه یې بشپړ شوي، ۵ هغه یې د تطبیق په وروستیو پړاونو کې وو، ۳ هغه یې په قسمي توګه تطبیق شوي، په داسې حال کې د ۲ هغو په اړه محدود او د ۳ هغو په اړه هیڅ پرمختګ نه دی ترسره شوی.
- په ۲۰۱۹ کال کې، له اداري فساد سره د مبارزې عدلي مرکز په ابتدايي محکمه کې ۲۳ قضیې اجرا کړي چې ۸۳ متهمین په کې شامل وو، چې په پایله کې ۶۶ هغه په سزا محکوم شوي او ۱۷ نور یې برائت شوي. دغه راز په ۲۰۱۹ کال کې، د مرکز استیناف محکمې د ۱۲ قضیو د استماع جلسې ترسره کړې چې ۴۶ متهمین په کې شامل وو، چې په پایله کې د ۴۱ کسانو سزاګانې تایید شوې او ۵ نورو هغو سزاګانې نقض شوې. د ۲۰۲۰ کال تر جولای پورې، نوموړي مرکز د ټولټال ۷۶ قضیو محکمې ترسره کړې چې ۲۸۹ متهمین په کې شامل وو.
- معلوماتو ته د لاس رسي کمیسیون د ۲۰۲۰ کال په کلنۍ بودجه کې شامل و، او دولت په ۵۹ دولتي ادارو کې د عامه معلوماتو افسران ګمارلي، چې افغانان له هغوي د معلوتاتو د ترلاسه کولو غوښتنه کولی شي.
- د ۲۰۱۹ کال په اګست میاشت کې، ولسمشر د خلکو د شکایتونو د غور او څېړنې د مامور/بازرس وګماره چا ته چې دنده سپارل شوې چې په اجرائیه قوه او په خپلواکو بودجوي واحدونو کې د لوړ پوړو چارواکو او اداري واحدونو په اړه شکایتونه ترلاسه کړي او وڅېړي.

**د دولتي چارواکو د شتمنیو د ثبت کلنۍ خپرونه**

- په ۲۰۱۹ کال کې، د هغو دولتي چارواکو او ملکي مامورینو شمیر چا چې خپله شتمني ثبت کړې له ۲۱۰۰۰ څخه واوښت. د شتمنیو د ثبت او تصدیق اداري د شتمنۍ د تصدیق او د نه رعایت د سزاګانو لپاره د قانوني چوکاټ توحید چارې جاري ساتلي.

په مرکزي، ولايتي او ولسوالۍ په کچو په ملکي برخو کې د ملکي کارکوونکو د ظرفيت لوړول څو دندې پر مخ يوسي او خدمتونه وړاندې کړي

- د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو په اوږدو کې، د ملکي خدمتونو ادارې د ۲۴۱۱ ملکي کارمندانو لپاره ۹۶ پروګرامونه او د ۱۱۸۰ ملکي کارمندانو لپاره له هيواد څخه ۳۲۶ روزنيز پروګرامونه تنظيم کړي. نوموړې ادرې دغه راز ۱۲ ښوونيز کورسونه جوړ کړي.
- دولتي ادارو ته د ځوانانو د راجذبولو لپاره، د ملکي خدمتونو انستيتوت له دولتي او خصوصي پوهنتونونو څخه د نويو فارغينو لپاره اته دورې د اداري کار زده کړې پروګرامونه داير کړي.

د ملکي خدمتونو د ګمارنو مخ پر زياتيدونکې روڼوالی او موثريت

- د راپور ورکولو په موده کې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون د ښوونکو د ډله ييزې ګمارنې په ګډون، د ۳۰۰۰۰ ملکي خدمتونو د منصبونو لپاره ګمارنې او ځارنې ترسه کړې.
- په ۲۰۱۹ کال کې، نوموړي کميسيون خپل د ازموينې د محتوا د څېړنې او پراختيا مرکز تاسيس کړ. له هغه وخت راهيسې په کابل کې د کمپيوټر له لارې د اليکټرونکي تحريري ازموينې په کارولو سره د ۵۶ ښځو په ګډون د ۶۹۳ ملکي خدمتونو لوړ پوړي منصبونه ډک کړای شوي. کميسيون دغه راز په بلخ، کندهار، هرات، ننګرهار، باميان او خوست کې د اليکټرونکي ازموينو مرکزونه جوړ کړي.
- نوموړي کميسيون د بشري منابعو او معلوماتو د مديريت په سيستم کې د ډيټا درج کول جاري ساتلي. تر دې دمه له ۵۰ اړوندو وزارتتونو او ادارو څخه د ۴۲۷۳۶۵ ملکي کارمندانو بايومټريک او بايوګرافيک تصديق شوي او په سيستم کې درج شوي.

د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو پياوړتيا چې ملاتړ يې د ظرفيت جوړونې او د تمويل کونکو د وجهي تخنيکي مرستې د يوه جامع روش له خوا کيږي

- د ۲۰۲۰ کال د جنوري پر ۱۹ نېټې، د اداري اصلاحاتو خپلواک کميسيون د ۲۰۲۰-۲۰۲۵ مودې لپاره خپل نوی ستراتيژيک پلان پيل کړ، چې ليد لوري يې د "يوې موثرې او بې پرې ملکي ادارې رامنځ ته کول دي چې د ورو ملکي کارمندانو له خوا پرمخ وړل کيږي، کومه چې د هيواد د اقتصادي موخو له پراختيا سره مرسته کوي او د ټولو افغان وګړو په ګټه کار ترسره کوي".
- د نړيوال بانک له خوا تمويل شوې د افغان دولت د بشري منابعو د مديريت او اداري اصلاحاتو پروژه د ۲۰۱۹ کال په لومړيو کې پيل شوه او له کميسيون سره يې د بشري منابعو او معلوماتو د مديريت د نوي سيسټم په معرفي کولو او د نويو پاليسي ګانو، اداري طرز العملونو او مقرارتو په طرح کولو کې مرسته کړې.

د سيمه ييزې حکومتدارۍ د پاليسۍ پلي کول او د محلي، نظارتي، مالي او بوديجې چوکاټونه انکشاف

- د ۲۰۱۹ کال د مارچ پر ۶ نېټه، د قانون د واکمنۍ او حکومتولۍ عالي شورا د ځايي حکومتولۍ فرعي کمېټې د ځايي حکومتولۍ د پاليسي د تطبيق عمل پلان تصويب کړ، چې پنځه کاري ګروپونه جوړوي کوم چې د اړوند دولتي ادارو له خوا رهبري کيږي څو له تطبيق سره مرسته وکړي.
- د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر پر ۳ نېټې، د ځايي شوراګانو د قانون طرح د پارلمان له خوا نهايي او تصويب شوه. د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲ نېټه، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې ادارې د محلي ادارو د قانون د مسودې د نهايي کولو راپور ورکړ.
- په ۲۰۱۹ کال کې، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې ادارې د ښاروالي حدودو د تاسيسولو لپاره طرز العملونه او لارښوونې جوړې کړې. په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې د ملګرو ملتونو د اسکان دفتر د نوموړې

| | |
|---|---|
| د اداري حدودو لپاره د معیارونو پراختیا او خپرول | اداري د ښاروالۍ له معینت سره د اوو ولایتونو د ښاروالیو (فراه، اروزګان، نیمروز، غور، نیلي، پکتیا او نورستان) لپاره د حدودو په تاسیسولو کې مرسته کړې. |
| | • په ۲۰۱۹ کال کې، د ۳۳ ولایتونو د کنفرانس تالارونو د جوړولو چارې پیل شوې، چې تمه کېږي د ۲۰۲۰ کال تر پایه به بشپړې شي. |
| د فعالو حکومتي ادارو لپاره د مناسبې زیربنا رامنځ ته کول، په ځانګړې توګه په ځایي کچه | • د ۲۰۱۹ کال په پای کې، سترې محکمې د ملګرو ملتونو او مرستندویانو په مرسته د جزايي قانون په اړه یو کنفرانس دایر کړ څو د قضايي قوې مخکښ غړي د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون په تطبیق کې خپلې تجربې او تبصرې شریکې کړي، دغه کنفرانس د قانون د تعدیل په اړه د ۵۴ سپارښتنو د وړاندې کولو لامل شو. |
| د باوري او د لاسرسي وړ قضايي او جزايي سیستمونو رامنځ ته کول چې د ټولو اتباعو بشري حقونو ته درناوی کوي او رعایت کوي | • د ۲۰۲۰ کال د جون پر ۲۳ نېټه، د سترې محکمې عالي شورا د کوویډ-۱۹ وبا له امله د قضیو په اجرااتو کې د ځنډ د مخنیوي او د آنلاین محکمو د تسریع او تسهیل لپاره طرز العملونه تصویب کړل. ستره محکمه اوس مهال د لرې څخه د استماع د جلسو د ترسره کولو او نور اړوندو ادارو لپاره د محکمه خونو د طرز العملونو پر جوړو اخته ده. |
| | • د لوي څارنوال په دفتر کې د نړیوالو جرمونو ریاست د خپل قضاوت تر صلاحیت لاندې له ۱۰۰ څخه د زیاتو قضیو په درلودلو سره اوس مهال د جنګي جرمونو او د بشریت پر ضد جرمونو څېړنې ترسره کوي چې د عراق او شام د اسلامي دولت – د خراسان ولایت ډلې د لوړ پوړو غړو په ګډون، د جګړې ټولې ښکیلې خواوې په کې دخیلې دي. |

**څلورم. بشري حقونه**

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره سم د افغانانو بشري حقونو ته ښه شوی درناوی، د ملکي وګړو پر ساتنه، د ښځو او نجونو پر وضعیت، د بیان پر آزادي، احتساب چې بنسټ یې د قانون پر حاکمیت ولاړ وي، له ځانګړې تاکید سره**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| له نړیوالو قوانینو سره د اړوندو فعالینو د تطابق له لارې، د ملکي وګړو په وړاندې د ځواک د نا قانونه کارونې او تهدید د پېښو په شمیر کې کمښت | • په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما په ملکي تلفاتو کې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۵ سلنه کموالی او له ۲۰۱۳ کال راهیسې د ملکي تلفاتو تر ټولو کم شمیر ملکي تلفات مستند کړي. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما په ملکي تلفاتو کې د ۲۰۱۹ د کال نیمه یې مودې په پرتله ۱۳ سلنه کموالی ثبت کړی. یوناما د خپلې مدافعې په پایله کې ځینې پرمختګونه ملاحظه کړي لکه: د ملکي تلفات د پیښو په اړه د طالبانو له خوا پوهاوي او په څېړنیز ظرفیت کې ښه والی؛ د یوناما د سپارښتنو پر بنسټ له نړیوالو نظامي ځواکونو سره د باندنیو "زده شویو لوستونو" تمرین؛ او د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو |

پر چاپېرو عملیاتو د محدودیتونو وضع کول کوم چې د دغو عملیاتو په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو په کچو کې د مستند شوي کمښت لامل شوي.

د افغانانو له خوا د خپلو حقونو او د حکومت له خوا د خپلو مکلفیتونو په اړه د پوهاوي لوړول

- په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ملکي وګړو د ساتنې، د ماشومانو د ساتنې، د ښځو د حقونو، د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو، د توقیفانو د عادلانه محاکمې د حقونو، او د بیان آزادۍ په اړه په ټول افغانستان کې د پوهاوي د لوړولو ۲۹۷ ورکشاپونه دایر کړي، چې د ۲۷۹۵ ښځو په ګډون ټولټال ۷۱۶۳ ګډونوالو په کې برخه اخیستې وه. یوناما دغه راز د پوهاوي ۵۳۷ غونډې ترسره کړې څو د بشري حقونو د اندېښنو په اړه له دولتي چارواکو، مدني ټولنې، خلکو او دیني مشرانو سره مدافعه وکړي.
- د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۱۷ نېټه، یوناما او د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د جګړې اړوند توقیفیانو سره د چلند په اړه خپل دوه کلني راپور خپور کړ چې د ۲۰۱۷ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د ۲۰۱۸ د ډسمبر تر ۳۱ پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي. راپور د افغان ملي امنیتي ځواکونو په نظارت خونو او توقیف ځایونو کې د جګړې اړوند بندي توقیفیانو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند په باوري ادعاوو کې عمومي کموالی ملاحظه کړی: د راپور ورکونې په تیره موده کې له ۳۹ سلنې څخه ۳۱.۹ سلنه دی. دغه کموالي زیاتې مدافعې ته منسوب شوی او د یوناما له خوا تخنیکي ملاتړ د دې لامل شوی چې دولت مشخص تدابیر خپل کړي.
- د ۲۰۲۰ کال د مارچ له ۴ تر ۱۴ نېټې پورې، یوناما په ټول افغانستان اته غونډې ترسره کړې چې د ښځو نړیواله ورځ یې لمانځله، کومو چې د ښځو او نجونو د حقونو اړوند موضوعاتو په اړه پوهاوی لوړ کړ. ملګرو ملتونو دغه راز د نارینتوب له ملي ایتلاف - د مدني ټولنې د استازو، دیني مشرانو، دولتي چارواکو او د خصوصي سکتور یوه شبکه – سره د "هر یو د برابرۍ لپاره" تر عنوان لاندې د یو لړ مراسمو په تنظیمولو کې مشارکت کړی چې په افغانستان کې د جنډر د برابرۍ په ملاتړ د ۱۰۰۰ سړیو په راغونډولو پای ته ورسیدل.
- د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۶ نېټه، ولسمشر په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ښځو لپاره د دویم مرستیال والي د منصب د تاسیسول فرمان صادر کړ.
- د راپور ورکول په موده کې، یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په اړه ۱۰ راپورونه خپاره کړل چې په وسله واله جګړه کې هغه پېښې تر پوښښ لاندې چې د ملکي تلفاتو لامل شوي.

د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره د حقوقي او پالیسۍ اقداماتو ښه اغیز او ملاتړ

- د ۲۰۱۹ کال له جنوري څخه د ۲۰۲۰ کال تر جون پورې، یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د سخت تاوتریخوالي ۴۰۳ پېښې مستندې کړې: د "ناموس-وژنو" په ګډون د وژنې ۱۲۸ پېښې، د جنسي تیري ۹۵ پېښې، د اجباري ځاني ژوبلې یا ځان وژنې ۴۴ پېښې، د اجباري واده ۱۷ پېښې او د کم عمر واده ۱۷ پېښې.

د معافیت پر وړاندې د مبارزې په پار د حقوقي او پالیسۍ د اقداماتو او د انتقالي عدالت د پر مخ بیولو په اړه ښه شوی پوهاوي او ملاتړ

- د راپور ورکولو په موده کې، د ښځو چارو د وزارت تقنیني کمېټې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه د قانون مفصله بیا کتنه رهبري کړې. د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې، د کابینې تقنیني کمېټې یوه کمېټه تاسیس کړه چې د کورنۍ د قانون مسوده وګوري، او د ۲۰۲۰ په جون میاشت د قانون طرحه د بیا کتنې لپاره کمېټې ته وړاندې شوه.
- د ۲۰۱۹ کال په جنوري کې او د ۲۰۲۰ کال په جنوري کې، د لوي څارنوال دفتر د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته د غبرګون د عدلي سیستم د غښتلي کولو په اړه کنفرانس ترسره کړ. د ۲۰۱۹ په مۍ میاشت کې، د کورنیو چارو وزارت د جنسي ځورونې د شکایتونو میکانیزم تصویب کړ. د ۲۰۱۹ کال په جون میاشت کې، د ښځو چارو د وزارت تقنیني کمیټې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره د بیړنیو بسپنو په اړه د مقررې پر طرح کولو کار پیل کړ. د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې، د کابینې تقنیني کمېټې د جزا د قانون د ۶۴۰ مادې کومه چې د "بکارت د ازموینې" په اړه ده، د تعدیل وړاندیز وکړ، څو دغه کار یوازې د محکمې په امر ترسره شي. د ۲۰۱۹ کال په نومبر کې، د لوي څارنوال دفتر په کار ځای کې د ښځو په وړاندې د ځورونې د شکایتونو د سمبالولو لپاره د یوه ځانګړې ریاست د تاسیسولو خبر ورکړ.
- د راپور ورکولو په موده کې، په ټول هیواد کې د ۶۵ مراسمو او ۱۵۷۱ ګډونوالو په درلودلو سره، یوناما له دولت، د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون او مدني ټولنې سره د ډیموکراتیکې فضا په وده، د بشري حقونو د مدافعینو په ساتنه، د بشري حقونو د سرغړونو لپاره په احتساب، له تبعیض سره په مبارزه، د سولې او پخلاینې یوه ټول شموله او بشري حقونو ته د پابندې پروسې او پر قربانیانو د متمرکز عدالت په وده کې مرسته کړې.
- د ۲۰۱۹ کال د فبروري پر ۱۴ نېټه، د یاد او ډیالوګ لپاره د افغانستان مرکز، د مدني ټولنې یو نوښت، پیل شو. دغه مرکز د "یاد بکسونو" یو کولیکسیون لري، کوم چې قربانیانو، د هغوی کورنیو او د قربانیانو خپلوانو جوړ کړي او هغه یې په ډېر احتیاط سره په خپلو شخصي شیانو او د خپلوانو په کیسو ډک کړي.
- په ۲۰۱۹ کې، یوناما له ځایي دیني علماؤو سره یو لړ مباحثې تنظیم کړې او د اسلامي شریعت له مخې یې د بشري حقونو د ودې او ساتنې اړوند موضوعاتو په اړه یو داخلي راپور چمتو کړی.
- د ۲۰۲۰ کال په جنوري کې، یوناما د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کمیشنرانو لپاره یو درې ورځنۍ ورکشاپ تسهیل کړ څو د سولې، بشري حقونو او انتقالي عدالت اړوند موضوعاتو په اړه د خپل ګډون او تعامل لپاره د فرصتونو په اړه مباحثې ترسره کړي.
- د ۲۰۲۰ کال د مارچ او جولای ترمنځ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د سولې په پروسه کې د قربانیانو د شمولیت او د قربانیانو د حقونو په مقابل کې د زندانیانو د خوشې کولو او

د بشری حقونو د نړیوالو میثاقونو، کنوانسیونونو او د بشري حقونو د شورا په ملاتړ د افغانستان د نړیوالې مهالنۍ بیاکتنې څخه د رامنځته شویو سپارښتنو د تطبیق په اړه د حکومت د راپور ورکولو د اړتیاو پوره کول

شفافیت د موضوعتو لپاره د لارو چارو په اړه موقف پاڼې خپرې کړي. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما مختلفو خلکو ته د ۳۴ ولایتونو د سولې لار نقشو تریجول او ویشل جاری ساتلي.

- یوناما او د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۲۰۱۹ کال په جنوري کې د دولتي وزارت خانو، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، او د مدني ټولنې ۴۹ استازو (د ۱۱ ښځو په ګډون) ته په نړیواله مهالنۍ بیا کتنه او د اړوند سپارښتنو په تطبیق کې د هغوي د رول په اړه یو ورکشاپ دایر کړ.
- په ۲۰۱۹ کال کې، د لوي څارنوال د دفتر په دننه کې یوه د لوړې کچې کمېټه تاسیس شوه څو د افغانستان د نړیوالې مهالنۍ کتنې څخه د رامنځ ته کیدونکو سپارښتنو سره سم، په لوګر ولایت کې د ماشومانو پر ضد د ۲۰۱۸ کال د نومبر د میاشتې د جنسي تیریو پېښې وڅېړي.
- د ۲۰۱۹ کال د مارچ پر ۵ نېټه، د ماشومانو د حقونو د ساتنې قانون د ولسمشر د ۳۶۲ شمیره تقنیني فرمان له لارې تصویب شو، د افغانستان د نړیوالې مهالنۍ کتنې یوه سپارښتنه. نوموړي قانون د بچه بازۍ او په وسله واله جګړه کې د ماشومانو د کارونې او ګمارنې د مخنیوي احکام رانغاړي.
- په ۲۰۱۹ کال کې، د ښځو چارو د وزارت تقنیني کمېټې د واده ثبت چارو د نظم په موخه د مقررې یوه طرحه جوړه کړه. د ۲۰۱۹ په مارچ کې، د کابینې د جنډر کمېټې په اصولو کې دوه پالیسي ګانې تصویب کړې، یوه په جګړه او اضطراري حالاتو کې د ښځو د ساتنې په اړه او بله په ټاکنو کې د ښځو د ګډون د زیاتولو په اړه.

د بشري حقونو د ساتنې، اجرا کولو او ودې ورکولو لپاره د افغان دولت او د افغان د بشري حقونو د ملي ادارې په څیر د افغانستان د بشري حقونو د خپل کمیسیون لوړ شوی ظرفیت او ژمنتوب

- د ۲۰۱۹ کال په سیپتمبر میاشت کې، دولت د شکنجې، او نورو ظالمانه یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع په اړه د ملګرو ملتونو د فرعي کمېټې لپاره د رابط شخص په څیر د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ټاکل کیدو خبر ورکړ، څو له فرعي کمېټې سره په اړیکه کې اوسي.
- د ۲۰۱۹ کال د نومبر له ۲۵ د ډسمبر تر ۱۰ پورې، یوناما په ټول افغانستان کې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي په ضد د ۱۶ ورځني کمپاین د یوې برخې په څیر اته فعالیتونه تنظیم کړي وو.
- د ۲۰۱۹ په ډسمبر کې، یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په ګډه په اتو ولایتونو کې مراسم تنظیم کړي وو، څو د بشري حقونو نړیواله ورځ ولمانځي په کومو کې چې ۵۷۶ ګډونوالو (د ۱۹۹ ښځو په ګډون) برخه اخیستې وه.
- د راپور ورکولو په موده کې، یوناما د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره د عملیاتي کتنې، مالي پایښت او پر قربانیانو د متمرکز عدالت په ګډون، د ساختاري "بدلون مدیریت" په موضوعاتو کې مرسته کړې. د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې، د بشري حقونو د ملي سازمانونو ایتلاف نوموړی کمیسیون ته د "الف" درجې اعتبار ورکړ. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ملکي تلفاتو د معلومولو د میتودولوژي او د بشرپالنې د نړیوال قانون د اړوندو

| | |
|---|---|
| | اصولو په اړه د کمیسیون د څېړنو له ځانګړي ټیم سره خپل ګډون او تعامل غښتلی کړي. |
| • | د راپور ورکولو په موده کې، یوناما د لوي څارنوال د دفتر د لوړې کچې کمېټې ته د ماشومانو په وړاندې د جنسي تیري د حساسو قضیو په محاکمه کې د ماشومانو د دوستانه څېړنو لارو چارو په اړه تخنیکي مرستې برابرې کړي. |

**پنځم. اقتصادي او ټولنیزه پراختیا**

**معیار: د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د حکومت پالیسۍ ګانې، چې پایښت لرونکې اقتصادي ودې ته وده ورکوي او له ټولیز ثبات سره مرسته کوي**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقایسونه* |
|---|---|
| د ملي لومړیتوب لرونکي پروګرامونه په نړیوال ملاتړ او تایید سره طرح او پلي شوې دي | • د ۲۰۱۲ کال په جون کې، د همغږۍ او نظارت ګډ بورډ پنځه لومړیتوب لرونکي ملي پروګرامونه تایید کړل. د ۲۰۱۳ کال په فبرورۍ کې د څلورو تایید شویو هغو سره یو ځای، د ۲۲ پروګرامونو له جملې څخه ۲۰ هغه یې اوس تایید شوي.<br>• د راپور ورکولو په موده کې، لومړیتوب لرونکي ملي پروګرامونه طرح او تمویل شوي، او دوی د تطبیق پلانونه لري چې د دواړو نړیوالو او د دولتي بودجې له تمویل سره د مرستندویانو، اړوندو پراختیایي شوراګانو او کابینې له خوا تصویب شوي.<br>• لومړیتوب لرونکي ټول ۱۰ پروګرامونه د افغانستان د سولې او پرمختیایي ملي کاري چوکاټ له مخې د ۲۰۱۹ کال تر فبرورۍ بشپړ شوي.<br>• د بودجوي اصلاحاتو د یوې برخې په توګه، دولت د کارکردګۍ/ورودي (اینپوټ) پر بنسټ له بودجې جوړونې څخه د پایلو پر بنسټ بودجې جوړونې ته لاړ دی. |
| په ټول افغانستان کې د پرمختیایي مرستو او حکومتي لګښتونو مساوي ویش | • پرمختیایي همکارانو د کابل او ټولو ۳۴ ولایتونو لپاره د تخصیصونو سره، د موجوده میکانیزمونو لکه د افغانستان د بیا رغونې اماني وجهي صندق، د افغانستان لپاره د قانون او نظم اماني وجهي صندق، د افغانستان د زیربناؤو اماني وجهي صندق او د څو اړخیزو میکانیزمونو له لارې خپل مالي ملاتړ جاري ساتلی.<br>• له ۳۰۵ شمیره ولسمشریز فرمان سره په سمون کې، د ۲۰۲۰ تر نیمه یې پورې، په هرات ولایت کې ټولټال ۲۳۸ نمرې ځمکه او په کابل کې ۱۱۴ اپارتمانونه د دفاعي او امنیتي ځواکونو د شهیدانو کورنیو ته ویشل شوي. دغه راز د دفاعي او امنیتي ځواکونو کورنیو ته په اوو ولایتونو کې ټولټال ۳۷۱۰ ایکړه ځمکه ویشل شوې، چې ۳۲۰۰۴ ایکړه نوره ځمکه بیرته راستنیدونکو، او ۵۵۰۰ نمرې ځمکه داخلي بېځایه شویو وګړو ته ویشل شوې. |
| د افغان سرچینو پر بنسټ د عایداتو زیات راغونډول او دوامداره وده | • په ۲۰۱۹ کال کې، نا خالص داخلي تولید ۳.۱۵ سلنه وده کړې، چې د سیاسي ستونزمن حالت لوړې کچې په ډاګه کوي، چې په خصوصي سکتور کې یوازې ۲ سلنه وده رامنځ ته شوې. د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې له ۱۸۲.۵ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۲۰۲.۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته صادراتو ۱۱ سلنه وده کړې (کال په کال). د صادراتو وده په کرنیزو تولیداتو کې د ښه شوي حاصلاتو له امله د سبزیو په تولیداتو کې د ۱۸ سلنه (۲۴.۴ میلیونه امریکایي ډالر) زیاتوالی په پایله کې رامنځ ته شوې.<br>• د عوایدو کارکردګې د ۲۰۱۹ کال په اوږدو کې ثابته وه، خو د ۲۰۲۰ کال لپاره د دولت د عوایدو د کال د بودجې په شپږ میاشتنۍ بیا کتنه کې له ۲۰۹ میلیونه افغانیو څخه ۱۴۴ میلیونه افغانیو ته |

| | |
|---|---|
| | راټيټ شوي. د داخلي عوايدو راغونډول د کوويډ-۱۹ د ناورين له امله په وروستيو مياشتو کې په ډيرې چټکۍ سره خراب شوي. د ۲۰۲۰ د جولای په مياشت کې، عوايد يو پر دريمه برخه راکم شوي او اقتصادي فعاليتونه، سوداګري او تاديات په لوړه کچه اخلال شوي. |

**شپږم: سيمه ييزه همکاري**

**معيار: د سوکالۍ، سولې او ثبات په ملاتړ پايښت لرونکې او موثره سيمه ييزه همکاري**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقايسونه* |
|---|---|
| د سيمه ييزو ادارو ښه شوې همغږي او زياته شوې سيمه ييز پانګونه | • د راپور ورکولو په موده کې، افغانستان له سيمه ييزو ارګانونو سره خپل تعامل او ګډون غښتلی کړی.<br>• ولسمشر د ۲۰۱۹ کال د جون پر ۱۳ او ۱۴ نېټه د شانګهاي د همکارۍ سازمان په سرمشريزه کې، د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر پر ۹ د اسيا زړه د وزيرانو د کچې په اتم کنفرانس او د ۲۰۲۰ کال د مې پر ۴ نېټه د غير ايتلافي حرکت د تماس ګروپ د کوويډ-۱۹ په اړه په آنلاين سرمشريزه کې ګډون وکړ. د ۲۰۲۰ کال د جولای ۲ نېټه، ولسمشر د آزربايجان له ولسمشر او ترکمنستان له ولسمشر سره د يوې آنلاين سرمشريزې کوربه و، چې د لاجوردو د ترانسپورتي لارې په ګډون د اقتصادي همکارۍ او سيمه ييز نښلون په اړه خبرې اترې ترسره کړې.<br>• د ۲۰۱۹ کال په اپريل مياشت کې، د شانګهاي د همکارۍ سازمان- د افغانستان د تماس ګروپ د دغه سازمان او هيواد ترمنځ د همکارۍ د لار نقشې د طرح په اړه خبرې اترې کړې کوم چې د دولت د مشرانو له خوا په نومبر کې تصويب شوې وي.<br>• د ۲۰۱۹ کال په جون مياشت کې، افغانستان او پاکستان د سولې او پيوستون لپاره د افغانستان-پاکستان د عمل پلان د تطبيق بيا کتنه ترسره کړه. د ۲۰۱۹ په نومبر کې، له پاکستان څخه يو پلاوي کابل ته راورسيد څو د تخنيکي کميټې د تاسيس په اړه خبرې اترې ترسره کړي څو د پلان له مخې د دواړو هيوادونو ترمنځ مسلې حل کړي. د ۲۰۲۰ کال په جون مياشت کې، د پاکستان يوه بل پلاوي له کابل څخه ليدنه وکړه څو د افغانانو په مشرۍ او د هغوي په مالکيت د سولې پروسې، دغه راز د سوداګرۍ او نښلون د تسهيلونې په اړه خبرې اترې ترسره کړې.<br>• د يوه خوندي او ثبات لرونکي افغانستان لپاره د سيمه ييز امنيت او همکارۍ په اړه د اسيا زړه – استانبول پروسې لوړ پوړو چارواکو د ۲۰۱۹ کال په جون کې په انقره کې او د ۲۰۱۹ کال په سپتمبر مياشت کې د باور جوړونې د تدابيرو د تطبيق په اړه په نيويارک کې وليدل. د ۲۰۱۹ کال په ډسمبر کې، د اسيا زړه د وزيرانو دکچې اتم کنفرانس د استانبول اعلاميه تصويب کړه، د کرنيزې پراختيا په اړه د باور جوړونې د نويو تدابيرو، او ناورينونو د مديريت او چاپيريال ساتنې لپاره د پراخو تدابيرو په شمول. د ښځو د ځواکمنتيا په اړه د باور جوړونې د تدابيرو د تاسيسولو له وړانديز سره همدارنګه مرسته |

شوې. د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې، افغانستان او ترکمنستان د باور جوړونې د اړوند تدابیرو له مخې د سیمه ییزو زیربنایي پروژو د امنیت په اړه خبرې اترې ترسره کړې.

- د ۲۰۱۹ کال په جولای میاشت کې، د ازبکستان صدر اعظم د افغانستان له اجرائیه رییس سره وکتل او د دواړو هیوادونو ترمنځ یې د سرخان-پل خمري د بریښنا مزي پر جوړولو هوکړه وکړه، او د سوداګرۍ او اقتصادي همکارۍ لپاره د هیوادونو د بین الحکومتي کمیسیون لومړۍ ناسته په تاشکند کې ترسره شوه.
- د ۲۰۱۹ کال په سپتمبر میاشت کې، افغانستان د چین-افغانستان-پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو په ډیالوګ کې ګډون وکړ په کوم کې چې هیوادونو د باور جوړونې او د پخلاینې د هڅو په اړه مباحثې ترسره کړې. د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشت کې، د چین-افغانستان-پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیرانو د درې اړخیز ستراتیژیک ډیالوګ پرمهال له کوویډ-۱۹ سره پر مبارزې، د افغان سولې او پخلاینې په اړه خبرې اترې ترسره شوې.
- د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر میاشت کې، قزاقستان او په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان له افغانستان سره د همکارۍ د غښتلې کولو په اړه ګردي میز دایر کړ، چې له هغو ادارو ترمنځ پر همکاریو متمرکز و چې له افغانستان سره مرسته کوي، لکه په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان، ملګري ملتونه او د شانګهاي د همکارۍ سازمان.
- د ۲۰۱۹ کال په نومبر میاشت کې، د اقتصادي همکارۍ د سازمان د وزیرانو شورا د نوموړي سازمان د افغانستان د بیا رغونې په اړه د ځانګړو بسپنو په ګډون په افغانستان کې د سولې او ټیکاو ودې ورکولو ته د غړو هیوادو ژمنې تایید کړې.
- د ۲۰۲۰ کال په جنوري میاشت کې، افغانستان، قزاقستان، قرغستان، تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او د اروپایي اتحادیې د بهرنیو چارو او امنیتي پالیسي په اړه ځانګړي استازي د زرغونې مرکزي اسیا نوښت پیل کړ، څو د اقلیم د بدلون او له هغه سره د ملو ګواښونو په اړه له ډیالوګ سره مرسته وکړي.
- د ۲۰۲۰ کال په فبروري میاشت کې، د افغانستان لپاره د ایران د اسلامي جمهوریت ځانګړي استازي د اقتصادي همکارۍ، له تروریزم سره د مبارزې، او له افراطیت او د نشه یي توکو له قاچاق سره د مبارزې په اړه د خبرو اترو په موخه له ولسمشر سره په کابل کې ولیدل. د ۲۰۲۰ کال په جون میاشت کې، د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر د ایران د اسلامي جمهوري د بهرنیو چارو له وزیر سره په تهران کې ولیدل، چیرې چې هغوي د امنیتي همکارۍ، د پولې د مدیریت، افغان کډوالو او ترانسپورټ په اړه مباحثې ترسره کړې.
- د راپور ورکولو په موده کې، همدارنګه یو شمیر سیمه ییزې پروژې هم موجودې وې. د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې، ولسمشر د کاسا پروژې د بنسټ ډبره کېښوده، څو له قرغستان او تاجکستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته بریښنا ولیږدوي. د پروژې د ساختمان چارې لا وار د مخه په تاجکستان او قرغستان کې پیل شوي. د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې، په پاکستان کې د ګوادر بندر د

| | |
|---|---|
| | چین-پاکستان د اقتصادي دهلیز د یوې برخې په څېر د تجارتي لیږد لپاره پرانیستل شو او د افغانستان-پاکستان د سوداګریز ترانزیت د تړون له مخې یې د کارګو اخیستل پیل کړل. دغه راز د ۲۰۲۰ په فبروري کې، د هندوستان حکومت د ایران په اسلامي جمهوریت کې د چاه بهار بندر د لا زیاتې پراختیا لپاره ۱۳.۹ میلیونه امریکایي ډالر ځانګړې کړل چې له هندوستان څخه افغانستان ته د دغه بندر له لارې لا وار د مخه کارګو رسیدلي. د ۲۰۲۰ کال په اپریل کې، ازبکستان له تاشکند څخه حیراتانو ته د اورګاډي د محمولو منظم لیږد پیل کړی. د تاپي پروژې د ګازو نل لیکې د پروژې او د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان د برېښنا د لیږد پروژې د پراختیا لپاره هڅې روانې دي. |

## اووم. د افغانستان او نړیوالې ټولنې تر منځ مشارکت

**معیار: د افغانانو تر رهبرۍ لاندې د همغږۍ په چوکاټ کې د افغان لومړیتوبونو لپاره د نړیوالې ټولنې له خوا منسجم ملاتړ**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ او د حکومت د لومړیتوبونو سره سم د مرستو د زیات شوی تناسب | • د ۲۰۲۱-۲۰۲۵ مودې لپاره د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ طرح د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې چې د جولای پر ۲۸ نېټه ترسره شوه، وړاندې شوه. د سولې راوستلو، دولت جوړولو او بازار جوړولو په رانغاړلو سره، د بیا کتل شوي کاري چوکاټ موخه په بودجه کې د باندنیو مرستو زیاتول، او له سولې وروسته صحنې پیشبیني کول دي. دولت ژمنه وکړه چې د اقتصادي ودې ستراتیژۍ، د کرنې لومړیتوب بندي کول، سیمه ییز نښلون او بشري پانګې پراختیا به تعقیبوي. نوموړي کاري چوکاټ د قانون واکمنۍ د ادارو د غښتلتیا، له اداري فساد سره د مبارزې، د دولتي مالي مدیریت د ښه کولو او د ځایي حکومتولۍ د پیاوړي کولو لپاره نور وړاندیزونه لري.<br>• ډونرانو له اداري فساد سره د مبارزې، ښې حکومتولۍ، ډیموکراسۍ، د قانون واکمنۍ، د بې وزلۍ د له منځه وړلو، د مدني ټولنې د سازمانونو د کار د مرکزیت، ټول شموله ودې او د لږکیو د حقونو په اړه د محسوسو پایلو غوښتنه وکړه. هغوی د کاري چوکاټ په ټولو دریو برخو/ستنو کې د بشري حقونو، د ښځو د حقونو او جنډر د شمولیت غوښتنه وکړه. دغه چوکاټ به د ۲۰۲۰ کال د ژمنو له سرمشرۍ مخکې کوم چې به د پلان له مخې د ۲۰۲۰ کال په نومبر کې ترسره شي، لا زیات وکتل شي. |
| د دولت او نړیوالې ټولنې په استازیتوب د تدارکاتو او قرارداد په اړه بهتر شوی احتساب | • د ملي تدارکاتو ادارې د پرانستي قرارداد کوونکي ډېټا له معیار څخه په پیروي کولو سره له ۷۵ سلنې څخه زیاد قراردادي معلومات آنلاین خپاره کړي؛ نوموړې ادارزې دغه راز د الیکترونکي تدارکاتو د سافټ ویئر لومړي پړاو بشپړ کړي، چې د اوس لپاره په څلورو دولتي ادارو کې د ازمایشي تطبیق لپاره چمتو دی. |

| | |
|---|---|
| د افغان لومړیتوبونو او دوه اړخیزو ژمنو په اړه د پرمختګ د منظمې ارزونې د یوې وسیلې په حیث د کابل د پروسې د ملاتړ په برخه کې د همغږۍ او څارنې د ګډ هیئت پیاوړتیا | • د کلیدي زیربنایي عامه خدمتونه په الکترونکي داوطلبۍ کې پیرودل شوي او تطبیق شوي.<br>• د همکارۍ او څارنې د ګډ هیئت ناستې د ۲۰۱۹ کال په جولای او د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشتو کې ترسره شوې. پیغامونو د دولت لپاره د دې بیړنۍ اړتیا په ډاګه کړه چې زیاتیدونکې بې وزلۍ او بې کارۍ، اداري فساد، اقتصادي پراختیایي پلان جوړونې، سازماني ظرفیت، او سیمه ییزه همکارۍ او ادغام ته رسیدګي وکړي. د جنیوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې په کاري چوکاټ کې د ۶۳ اهدافو ترمنځ، ۱۸ هغه یې د ۲۰۲۰ کال د جولای تر غونډې پورې په بشپړ ډول ترلاسه شوي، ۳۴ هغه یې پر لار دي او ۱۱ نور یې نیمګړي دي، زیاتره د امنیتي اندېښنو له امله. د تطبیق عمومي کچه ۷۱ سلنه وه. د ۲۰۲۰ کال د وزیرانو د کچې د ژمنو د کنفرانس لپاره یو نوي کاري چوکاټ چمتو شوی. |

**اتم: له نشه یي توکو سره مبارزه**

**معیار: د کوکنارو په کښت، د نشه يي توکو په تولید او پر هغوي په روږدي کیدو کې دوامدار رجحان**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د کوکنارو په کښت، نشه یي توکو په تولید او د روږدې کیدو په میزان کې کمښت | • په افغانستان پر نا قانونه کوکنارو کښت شوې ساحه په ۲۰۱۸ کال کې له ۲۶۳۰۰۰ هکتارو څخه په ۲۰۱۹ کال کې ۱۶۳۰۰۰ هکتارو ته راکمه شوې، کوم چې ۳۸ سلنه کموالی په ډاګه کوي. خو له دې سره سره د آپیومو بالقوه تولید په شاو خوا ۶۴۰۰ ټنو کې په ثابت ډول پاتې دی.[3]<br>• داسې بریښي چې اوس افغانستان د نړۍ په کچه د بنګدانو (جرسو د قند) دویمه تر ټولو مهمه سرچینه ده، چې د راپورونو له مخې د ۲۰۱۴-۲۰۱۸ مودې لپاره د ضبط شویو د ۱۹ سلنې د سرچینې په څېر په ګوته شوی. |
| د موثره مخنیوي او قاچاق ضد هڅو په برخه کې کې زیاتوالی | • د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یي کې، افغان چارواکو د نشه یي توکو پر وړاندې ۱۲۴۲ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې یې ۹۱۰ کیلو ګرامه هیروین، ۱۲۷ کیلو ګرام مورفین، ۳۲۰۴ کیلو ګرامه آپیوم، ۳۴۶۴ کیلو ګرامه د کوکنارو دانه، ۳۵۵ کیلو ګرامه مفامفتامین، ۲۳ کیلو ګرامه ایفیدرین او سیډوفایدرین، ۴۶ کیلو ګرامه د ۳،۴ متیلن دیوکسی ممت آمفتامین، ۷۰۵۸۱ کیلو ګرامه چرس، ۱۴۱ کیلو ګرامه ترامادول ټابلیټ، ۵۸۴۰ لیټره فورمیک آسید او ۲۲۱ کیلو ګرام اسیتیک انهایدرایډ نیول شوي. پر دې سربیره، ۹۱۷ هکتاره د کوکنارو او ۵ هکتاره د بنګو فصلونه له منځه وړل شوي. |

[3] تر ۲۰۱۸ کال پورې، د افغانستان د آپیومو سروې ګانې د افغانستان له نشه یي توکو سره د مبارزې د وزارت او د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو د دفتر له خوا ترسره کیدې. د ۲۰۱۹ کال لپاره ډیټا د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو د دفتر د نا قانونه فصلونو د څارنې له پروګرام څخه ترلاسه شوې.

| | |
|---|---|
| په هغو ځمکو کې چې پخوا پرې کوکنار کرل کیدل، په مشروع کرنه او اړوند خصوصي پانګونې کې زیاتوالی | • د پرتلې له مخې، په ۲۰۱۹ کال کې، له نشه يي توکو سره د مبارزې ۳۶۶۱ عملیات ترسره شوي وو، چې په پایله کې يې ۲۹۹۰ کیلو ګرامه هیروین، ۶۹۰۳ کیلو ګرام مورفین، ۳۳۶۱۱ کیلو ګرامه آپیوم، ۱۲۵۱ کیلو ګرامه مفامفتامین، ۶۴۶۰۰۰ کیلو ګرامه چرس، ۳۴۶۴ کیلو ګرامه د کوکنارو دانه، ۴۸۲۲۱ د K تابلیټونه نیول شوي.ټولټال د هروین د جوړولو ۹۵ لابراتورونه او د مفامفتامین یو لابراتوار، او د نشه يي توکو ۳۰ زیرمې ویجاړې شوي.<br>• د ورته مودو د پرتله کولو پرمهال، د ۲۰۲۰ کال ارقام د هغو په پرتله چې په ۲۰۱۹ کال کې ترلاسه شوي خورا ټیټ دي، چې په زیات احتمال دغه کار د ۲۰۱۹ کال راهیسې د ننګونکې سیاسي او امنیتي چاپیریال له امله رامنځ ته شوی.<br>• د کرنې، اوبو لګولو، او مالدارۍ وزارت په ۲۰ ولایتونو کې د بدیلو معیشتونو د پراختیا پروګرام تطبیق کړی. نوموړي پروګرام د ۲۴۸۹۷ کروندګرو لپاره خدمتونه برابر کړي. ټولټال ۲۶۶۰ مرغنچې جوړې شوي او ۵۳۲۰۰ چوزګوړي ویشل شوي؛ ۲۶۶۰ ګټه اخیستونکې ښځې د مرغدارۍ د مدیریت په اړه روزل شوي؛ ۶۵۵۲ بزګران د لبنیاتو د مدیریت، ناروغیو د کنترول او بازار ته د لاس رسي په اړه روزل شوي او د شیدو د پروسس ۲۰۴ مرکزونه تاسیس شوي؛ او پر ۷۲۳ هکتاره ځمکه د میوو بڼونه جوړ شوي. |